# لمړي فصل

## د اسلام په هکله بیان

اسلام د الله پاک يواځني هغه دين دي د کوم پرته چه الله پاک د خپلو بندګانو نه ( انسانان وي که پيريان) بل دين نه قبلوې د الله پاک ارشاد دي:

﴿ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ ﴾[آل عمران: ٨٥] اوځوك چه د اسلام نه غير (بل) دين غواړي، نو هيڅكله به له ده نه قبول نه كړاي شي او دغه كس به په آخرت كې له تاوانيانوڅخه وي.

Download From; Aghalibrary.com

په يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي:

﴿ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ ﴾[آل عمران: ١٩]

بيشکه (معتبر) دين د الله په نيز اسلام دي.

د اسلام مبين دين د ټولو پيغمبرانو دين دي د الله پاک ارشاد دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ﴾[الانبياء: ٢٥]

او مونږ له تا نه مخکې هيڅ رسول نه دي ليږلی مګر چې هغه ته به مونږ (دا) وحي کوله چې بيشکه شان دا دي چه له ما نه پرته بل هيڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت کوي.

په يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي:

﴿إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيۡمَٰنَۚ

Download From; Aghalibrary.com

وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ زَبُورًا ﴿١٦٣﴾ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَٰهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا ﴿١٦٤﴾ رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ ٱلرُّسُلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا﴾[النساء: ١٦٣-١٦٥]

**بیشکه مونږ تا ته وحي کړې ده، لکه څنګه چه مونږه وحي کړې وه نوح ته او له هغه نه پس (نورو) نبیانو ته او مونږ وحي کړې وه ابراهیم او اسمعیل او اسحاق او یعقوب او د (هغوي) اولادې ته او عیسی او ایوب او یونس او هارون او سلیمان ته۔ او مونږه داود ته زبور ورکړی وو**

**او (مونږ لیږلي وو) ډېر رسولان، چه یقیناً د هغوی احوال مونږ تا ته له دې نه مخکې بیان کړي دي او (نور) رسولان چې د هغوی احوال مونږ تا ته نه دي بیان کړي او الله له موسی سره خبرې کړي دي، واضحې خبرې.**

*Download From; Aghalibrary.com*

او (مونږ ليږلي وو) رسولان، چې زېرى وركوونكي او وېروونكي وو، د دې لپاره چې د خلقو لپاره په الله باندې څه حجت پاتې نشي او الله له ازله ډېر غالب، ښه حكمت والا دي.

الله پاک ددې پيغمبرانو، نوح، ابراهيم، اسحاق، يعقوب، داود، سليمان، ايوب، يوسف، موسى، هارون، زكريا، يحيى، عيسى، الياس، اسماعيل، يسع، يونس، او لوط عليهم السلام د ذكر كولو نه بعد فرمائي:

﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُۖ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقۡتَدِهۡۗ ﴾[الانعام :۹۰]

دا هغه كسان دي چې الله ورته هدايت كړي دي، نو ته د دوي د طريقې اتباع كوه.

په اصولو ( عقيده) كې د ټولو پيغمبرانو دين متفق دي، او د ځينې فرعي مسائلو او احكامو نه پرته په نورو مسائلو او احكامو كې هم اتفاق دي. خو په ځيني فرعي مسائلو كې د يو شريعت په نسبت سره په شريعت كې بدلون راځي، او هر چې اصول دي (عقيده) د هغې باره كې د ټولو پيغمبرانو دين

Download From; Aghalibrary.com

متحد او متفق دي، اوهيڅ کله په هغې کې بدلون نه راځي، څکه چې الله پاک بني اسرائيلو ته موسی او عيسی عليهم السلام د پيغمبرانو په حيث ليږلي وو.

خو هغه کتاب چه الله پاک په عيسی عليه السلام باندي نازل کړی وو( انجيل) په هغې کې الله پاک ځيني هغه حکمونه منسوخ کړل، کوم چې د موسی عليه السلام په شريعت (تورات) کې موجود وو، څکه چې عيسی عليه السلام خپل قوم (بني اسرائلو) ته فرمايلي وو:

﴿وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ ٱلَّذِى حُرِّمَ عَلَيْكُمْ ۚ وَجِئْتُكُم بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ﴾[آل عمران : ٥٠]

پدې حال کې چې تصديق کوونکی يم د هغه (کتاب) چه له ما نه مخکې و، چې تورات دي او د دې لپاره (راغلی يم) چې تاسو لپاره بعضې له هغو شيانو حلال کړم چې پر تاسو باندې حرام کړی شوي وو، او ستاسو د رب له طرفه ما تاسو ته

Download From; Aghalibrary.com

واضحه نښه (معجزه / دليل) راوړې ده، نو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

موسی اوعيسی عليهم السلام يو امت (بني اسرائلو) ته دپيغمبرانو په حيث راغلي وو، خو د دوي شريعتونه په ځيني فرعي مسائلو او حکمونو کې د يو بل نه مختلف وو، همداسي د دوي نه روستو راغلي پيغمبران هم.

بيا د زماني په تيريدو سره هيڅ يو شريعت د تحريف او تبديل نه محفوظ پاتې نشو، لکه څنګه چې الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَإِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيقٗا يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم بِٱلۡكِتَٰبِ لِتَحۡسَبُوهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ﴾[آل عمران: ٧٨]

او يقيناً په دوي کې يوه ډله ده چې په (لوستو د) کتاب سره خپلې ژبې تاووي، د دې لپاره چې تاسو په هغه د (الله د) کتاب ګمان وکړئ، حال دا چه هغه له (حق) کتاب څخه ندي،

Download From; Aghalibrary.com

او دوي وايي چې دا (مُحرّف عبارتونه) د الله له جانبه دي، حال دا چې هغه د الله له جانبه ندي، او دوی په الله باندې دروغ تپي، حال دا چې دوی پوهیږي

په یو بل مقام کې الله پاک فرمائي: ﴿يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ﴾[النساء: ٤٦] هغوی له خپلو ځایونو نه کلمې بدلوي.

او ځینې له هغو کسانو نه چه یهودیان دي، هغوي له خپلو ځایونو نه کلمې بدلوي او هغوی وایي: (سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا) مونږ واورېدل او مونږ نافرماني وکړه. (وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ) او ته واوره، چې ته اورول شوي نه یې (اورَاعِنَا) زمونږ رعایت وکړه د خپلو ژبو په تاوولو سره او په دین کې د طعن (او عیب) راوښکلو لپاره، او یقینًا که دوي ویلي وي (چې) (سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا) مونږ واورېدل او اطاعت مو وکړ، او (اِسْمَعْ) واوره، (وَانْظُرْنَا) او مونږ ته وګوره، نو دا (کلام) به د هغوی لپاره ډېر غوره او ډېر درست ساتونکي وو، لیکن الله د دوی د کفر په

سبب په دوي لعنت کړيدي، نو دوي ايمان نه راوړي مګر ډير لږ (خلق)

او ددي تحريف او تبديل په نتيجه کې د عامو انسانانو نه د حق او هدايت لاري ورکې شوې، الله پاک غوښتل چې خپلو بندګانو ته هدايت وکړې، ددي لپاره چې د خپل دين او د هدايت لاري خپلو بندګانو ته بيرته روښانه کړې، د محمد صلى الله عليه وسلم د نبوت انتخاب وکړ، او په ټولو انسانانو باندي يي د محمد صلى الله عليه وسلم د دين تابعداري لازم کړه اوس د اسلام نه پرته هيڅ يو دين د الله پاک په وړاندي د قبوليت قابل ندي، د الله پاک ارشاد دي:

﴿ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾[آل عمران: ٨٥]

اوڅوك چه له اسلام نه غير (بل) دين غواړي، نو هيڅکله به له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانيانو څخه دي.

صحيح مسلم کي د ابو هريره رضي الله عنه روايت دي چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

«وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الأُمَّةِ يَهُودِيٌّ، وَلا نَصْرَانِيٌّ، ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ، إِلا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ»

قسم په هغه ذات چه د محمد صلی الله علیه وسلم روح د هغه په لاس کي دي، نه اوري زما باره کې په دي امت کي هيڅوک، که يهودي وي او که نصراني وي، او بيا په داسي حالت کي مړ شي، چې زما په شريعت باندي ايمان نلري مګر د جهنم اور ته به ځي. (صحيح مسلم:۱۵۳)۔

نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته چه الله پاک کوم کتاب ( قران حکيم) ورکړی دی نو ددي د محفوظ ساتلو ذمواري الله پاك پخپله اخستي ده، ځکه خو قرآن حکيم کي د هيڅ قسم تحريف او تبديل کنجائش نشته، د الله پاک ارشاد دي:

﴿ إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴾[الحجر: ٩]

بیشکه هُم مونږ پخپله ذکر نازل کړي دي او بیشکه مونږ د ده خامخا ساتونکي یو.

## دویم فصل

د اسلام متعلق د مقصود إلهي وضاحت او تفسیر یواځې الله پاک پخپل کتاب او د خپل نبي صلی الله علیه وسلم په سنت کې کړي دي او بل هیچا ته دا اختیار حاصل ندی چې د خپل ځان نه په شریعت اسلامي کې دخل اندازي وکړي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم چه په ټولو خلکو کې غوره شخصیت دي، خو هغه هم د خپل رب د خوا نه یواځې د مبلغ حیثیت لري، الله پاک فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ ﴾[المائدة: ٦٧]

ای رسوله! ته ورسوه هغه څه چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړي شوي دي ـ

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ذمداري د اسلامي شريعت په تبليغ کې د هغې پوره وضاحت او بيان کول دي، لکه څنګه چې الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴾[النور : ٥٤]

او د رسول په ذمه نشته مګرښکاره پيغام رسول.

دا خبره دې بايد هم ښکاره وې چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم بيان په تبليغ د دين کې هم د الله پاک د خوانه شوی دي، د الله پاک ارشاد دي:

﴿فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ﴾[القيامة: ١٨-١٩]

نو کله چې مونږ دی (قرآن) ولولو، نو ته د ده د لوستلو پيروي کوه.بيا يقينًا زمونږ په ذمه دده (قرآن) بيانول دي.

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم بيان هم د الله پاک د خوانه وحی ده، د الله پاک ارشاد دی:

﴿ وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ﴿٣﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ ﴾

[النجم : ٣-٤]

او دی (محمد علیه الصلاة والسلام) له خپل خواهش نه خبرې نه کې. ندی دا (قرآن) مګر وحي چې (ده ته) وحي کول شي۔

د همدي وجې نه به چه کله د نبي کريم صلی الله علیه وسلم نه د يو حکم باره کې تپوس وشو نو که د مخکې نه به ورته د خپل رب د خوانه ددغې حکم باره کې وحې شوی وه نو جواب به يي ورکړو، او که وحې به نه وه شوې، نو د جواب ورکولو د پاره به يي د وحې انتظار کولو، او په ټولو خلکو کي د نبي کريم صلی الله علیه وسلم په مقصد او مراد باندي دهغه ملګري صحابه ډير ښه پوهيدل، ځکه خو د هغوې فهم په قران کي حجت او دليل دي.

او هغه څوک چې دا عقيده ولري چې د الله پاک نه پرته بل څوک هم کولي شي چې شريعت سازي وکړې او د ځانه قوانين جوړ کړې چې په هغې سره څه حلال او څه حرام وګرځوې، نو ده په حقيقت کي د الله پاک سره په حکم کې شريک جوړ کړ او بيله شک داعقيده د کفر ده.

الله پاک چې د خپل کلام معنی بیانه وې د هغې د پاره خپل کلام نازله وې، او د هغې وضاحت او بیان یا پخپله کوې، او یا په مخلوق کې ددې وضاحت او بیان هغه څوک کوې چاته چې د الله پاک د خوا اجازه وې.

## دقرآن پوهان د دوه شرطونو په بنیاد د قرآن نه استنباط کولی شي.

لمړي شرط: د عربي ژبې په بنسټ او د هغې د مفرد او مرکب د وضعیت سره موافق استباط کول، او د هغې نه بهر نه وتل.

دویم شرط: دا استنباط به د هغې معنی نه مخالف نوې کومه معنی چې د قران نه په صراحت سره ثابته وې.

دا حقیقت باید ذکر کړو چه ټولې هغه خبرې چې الله پاک ته د هغې نسبت کیږې، ټولې د هغه خبرې نه وې، ځکه چې أهل کتاب ( یهود، او نصاری) په دې ګمراه شول چې هغوې په استنباط کې د تکلف په بنیاد په محکم د کتاب کې ګډلیچ وکړ ددې د پاره چه د متاشبه سره یې په ټکر کې راولئ او

دوې به ددي نسبت الله پاک ته کولو، ددوې باره کې د الله پاک ارشاد دی:

﴿وَإِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيقٗا يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم بِٱلۡكِتَٰبِ لِتَحۡسَبُوهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴾[آل عمران: ٧٨]

او يقيناً يقيناً په دوی کې يوه ډله ده چې په (لوستو د) کتاب سره خپلې ژبې تاووي، د دې لپاره چې تاسو په هغه د (الله د) کتاب ګمان وکړئ، حال دا چه هغه له (حق) کتاب څخه نه دي، او دوی وايي چې دا (مُحرّف عبارتونه) د الله له جانبه دي، حال دا چه هغه د الله له جانبه ندي، او دوی په الله باندې دروغ تېي، حال دا چه دوي پوهيږي

يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم بِٱلۡكِتَٰبِ

دوي ژبي اړوي په کتاب باندي ﴿لِتَحۡسَبُوهُ﴾ ددې لپاره چي تاسو په هغه د (الله د) کتاب ګمان وکړئ، د ډیر نیزدیکت دوجې نه، دوي دا کار ګمراهي کې انتهائي درجې ته رسیدلو دپاره کوې.

## دریم فصل

د الله پاک حق: د الله پاک حق دادي چه په پوره اخلاص سره هر نوعه عبادت یواځې د الله پاک لپاره وکړی شي، د الله پاک رشاد دی:

﴿وَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ﴾[البقرة: ١٦٣]

او ستاسو حق معبود یو معبود دي، هیڅ لایق د عبادت نشته مګر یواځې هغه دی چه ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکي دي.

په ټولو عملونو کي که د زړه سره تعلق لري، یا د ژبي سره تعلق لري، یا د اندامونو سره تعلق لري، په دي ټولو عملونو کي باید د الله پاک سره هیڅوک شریک نه کړی شي، د الله پاک ارشاد دی:

﴿وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗا﴾[النساء: ٣٦]

او تاسو د الله عبادت کوئ او له هغه سره هیڅ شی مه شریکوئ.

شرک أکبر د بنده هیڅ یوه نیکئ نه پریږدي، بلکه هغه بربادوي! د الله پاک ارشاد دي:

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾[الزمر : ٦٥]

او یقینًا یقینًا تا ته وحي کړی شوې ده او هغو کسانو ته چي له تا نه مخکي وو (داسي چې) قسم دي که تا شرك وکړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له تاوانیانو څني شې.

دا خطابي إلهي غوره شخصيت محمد صلى الله عليه وسلم ته متوجه دی، نو د هغه چا به څه حال وي، چې د هغه نه په مرتبه کي ښکته وي؟

الله پاک خپل بنده ته شرک أکبر د توبې نه پرته نه معاف کوي، د الله پاک ارشاد دي:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ ﴾[النساء : ٤٨]

بیشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك) شريك كړاي شي، او هغه (ګناه) بخښي چې له دې (شرك، يا كفر) نه كمه وي د چا لپاره چې وغواړي.

په يو بل مقام کې الله پاک فرمایلي دي:

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ مَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٞ فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡ ﴾[محمد: ٣٤]

بيشکه هغه کسان چې کافران شوي دي او د الله له لارې نه منع کيږي، بيا دوی په داسې حال کې مړه شي چې کافران دي، نو الله به دوی ته له سره بخښنه ونه کړي.

څوک چې د کفر په حالت کې مړ شو جهنمي دی الله پاک فرمائي:

﴿وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ﴾[البقرة : ٢١٧]"

او په تاسو کې چه څوك له خپل دين نه وګرځيده، بيا په داسې حال کې مړ شو چې کافر وو، نو دغه کسان (چې دي) ددوی عملونه په دنيا او آخرت (دواړو) کې ضايع شويدي او دغه کسان د اور ملګري دي، دوي به په هغه کې تل ترتله (هميشه) وي.

په يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٌ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةُ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ﴾ [البقرة : ١٦١]

بيشکه هغه کسان چې کفر يې کړي دي او په داسې حال کې مړه شول چې کافران وو، (نو) دغه کسان، په دوی باندې د الله لعنت دي او د فرشتو او د خلقو ټولو (لعنت دي).

کافر کله پخپل ژوند کې د نورو انسانانو سره مرسته او کومک هم کوې او هغوې ته نفع رسوي، خو دا د الله پاک له خوانه د انسانانو د فائدي لپاره داسي تابع او مسخر شوي وي، لکه څنګه چې نور کائنات د انسانانو د فائدي لپاره مسخر او تابع دي، لکه لمر، سپوږمۍ، هواګاني، وريځې وغيره، دا ټول کائنات الله پاک د انسانانو د فائدي لپاره تابع او مسخر کړيدي. حقيقت کې د الله پاک نه انکار کولو باندي کفر واقع کيږې، او سزا هم د الله پاک د حق نه انکار کولو باندي ورکول کيږې.

## څلورم فصل

**ایمان اوکفر: دوه نومونه او حقیقتونه دي چې ددي دواړو د حکمونو تعیین الله پاک په شریعت اسلامي کې واضحه کړي دي، نو هیڅوک دا اختیار نلري چې د ښکاره شرعي دلیل پرته د چا تکفیر وکړي او د اسلامي ملت څخه یې خارج کړي.**

**په مخ د زمکه دي باره کې خلک دوه قسمه دي چې دریم قسم نلري، لکه څنګه چې د الله پاک ارشاد دی:** ﴿هُوَ الَّذِى خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَمِنْكُمْ مُؤْمِنٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾[ التغابن ٢ ]

**هم دغه (الله) هغه ذات دي چې تاسو یې پیدا کړيئ، نو په تاسو کې ځینې کافر دي او ځینې په تاسو کې مؤمن دي۔ او الله هغو کارونو لره چې تاسو یې کوئ ښه لیدونکی دي.**

**او ددي دواړو ډلو اړوند ډیر مسائل او احکام په قرآن او سنت کې شته.**

## منافقان څوک دی؟

منافقان خو یا هغه کافران دي چې په ښکاره باندي د إيمان او إسلام دعوه کوې، خو د هغوې په زړه کې د إيمان څرک نه تر سترګو کیږې، بلکه په پټه دوي د اسلام ډیر سخت دښمنان وې، دي ډول منافقت ته په اسلامي شرعي اصطلاح کې ( نفاق أکبر) لوې منافقت وائي.

همدغه شان منافقان خو یا هغه مسلمانان دي چې خپل ګناهونه پټ ساتي او د تابعدارۍ او بندګۍ اظهار کوې، لکه هغه څوک چې ځان داسي ښکاره کوې، چې ګویا که دا د وعدي پابند دی، خو حقیقت کې دي د وعدي پابندي نه کوې، بلکه د وعدي خلاف کوې، همدغه شان هغه څوک چه دا ښکاره کوې چې ګویا که دا په خبرو کې رشتیا وایي، خو په حقیقت کې داسي نه وي بلکه په خبرو کې دروغژن وي .. وغیره، دي ډول منافقت ته دشریعت په اصطلاح کې نفاق

اصغر ( د مخکي په نسبت سره وړوکی منافقت) ځکه خو ددي ډول منافق سره د مسلمانانو په شان برخورد کيږي.

اصل کې د مؤمن بنده وينه او مال حرام دي او د کافر وينه او مال حلال، خو دا حکم مطلقا (هر وخت) نه دي، بلکه کيداي شي چه د کافر وينه او مال د ذمي يا امان او تعاهد د وجې نه محفوظ شي، او کيداي شي چه د مؤمن وينه د هغه د ګناه په سزا کې مثلا قتل وکړي يا د واده نه بعد زنا وکړي، او ددي په سزا کې په قتل ورسيږي.

هيچا ته کافر ويل درست ندي، مګر هغه څوک چه الله پاک او د هغه پيغمبر يي کافر وګرځوي، لکه هغه څوک چه د الله پاک او د هغه د پيغمبر نه انکار وکړي.

همدغه شان هغه څوک چې الله پاک او دهغه په رسول پوري ټوقي وکړي، دوي ټول هغه کسان دي چې الله پاک دوي کافر ګرځولي دي، لکه د الله پاک ارشاد دی:

﴿قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ٦٥ لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡۚ إِن نَّعۡفُ عَن طَآئِفَةٖ مِّنكُمۡ نُعَذِّبۡ طَآئِفَةَۢ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ مُجۡرِمِينَ﴾

[التوبة: ٦٥-٦٦]

**ته (ورته) ووايه: ايا تاسو په الله او د هغه په آيتونو او د هغه په رسول پورې استهزا او مسخرې کولې؟**

**عذرونه (بهانې) مه جوړوئ، يقيناً تاسو له خپل ايمان راوړو نه وروسته کافران شوي يئ، که مونږ په تاسو کې يوې ډلې ته معافي وکړو، (نو) بلې ډلې ته به عذاب ورکړو، په سبب ددې چې هغوی په رښتيا مجرمان وو.**

**همدغه شان هغه څوک چې د الله پاک او دهغه د رسول د حکم منلونه سر غړونه وکړې.**

**هغه څوک چې د دين اسلام د قطعي او واضحه مسائلو نه او حکمونو نه انکار وکړې.**

**هغه ځوک چې په الله پاک باندې د ځانه دروغ ووائي.**

الله پاک فرمايلي دي:

﴿ إِنَّمَا يَفْتَرِي ٱلْكَذِبَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴾[النحل: ١٠٥]

**خبره همدا ده چه دروغ هغه کسان تړي چې د الله په آيتونو باندې إيمان نه راوړي او همدغه خلق دروغجن دي.**

**يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي:**

﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُۥٓ ۚ أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَٰفِرِينَ ﴾[العنکبوت: ٦٨]

**او له هغه کس نه لوي ظالم ځوك دي (يعني نشته) چې په الله باندې دروغ تړي، يا د حق تکذيب کوي، کله چې ده ته دغه (حق) راشي، ايا په جهنّم کې د کافرانو لپاره د اوسيدو ځاي نشته؟**

**دې آيت کريمه کې د ظلم نه مراد کفر دي.**

همدغه شان هغه څوک چي د غير الله د پاره بندګي وکړئ، د الله پاک ارشاد دی:

﴿ وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾[المؤمنون : ١١٧]

او هغه څوك چې له الله سره بل داسې إله بلي چې له هغه سره پدې باندې هیڅ دلیل نشته، نو بیشکه همدا خبره ده چې دده حساب دده د رب په نیز دی، بیشکه شان دادي چه کافران بري نه مومي،

برابره خبره ده که دا بندګي خالص د غير الله لپاره وکړي، او یا غير الله واسطه او سفارشي وګرځوي دا ټول په کفر کي داخلیږي، د الله پاک ارشاد دی:

﴿ وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴾[يونس : ١٨]

او دوی له الله نه غیر د هغو څیزونو عبادت کوي چې نه دوي ته ضرر رسولي شي او نه دوي ته نفع رسولي شي او دوی وايي: دا د الله په وړاندې زمونږ سفارشیان دي، ته ووایه: ایا تاسو الله په هغه څه خبروئ چې هغه يې نه په اسمانونو کې پيژني او نه يې په ځمکه کې، هغه ډېر پاك دي او ډېر اوچت دي له هغو څيزونو نه چې دوي يې ورسره شریکوي۔

همدغه شان هغه څوک چې دالله پاک حق مخلوق ته ورکړې لکه په قانون سازي کې د الله پاک حق مخلوق ته ورکول، چې هغوې د خپل ځان لپاره حلال او حرام مقرر کړې، دا هم په کفر کې داخلیږې، ځکه چه په حلالو او حرامو کې د چا تابعداري کول د هغه عبادت دي، لکه څنګه چې الله پاک فرمايلي دي:

﴿إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۚ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ﴾[يوسف : ٤٠]

حکم (فيصلي) يواځې الله ته خاص دي، هغه حکم کړی دي چې تاسو يواځې د هغه عبادت کوئ۔

**همدغه شان هغه ځوک چې د غير الله لپاره د علم غيب عقيده ولري، لکه: ساحران کاهنان وغيره، الله پاک فرمايلي دي:**

﴿قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلْغَيْبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ﴾[النمل: ٦٥]

**ته (دوی ته) ووايه: هر هغه ځوك چې په اسمانونو او ځمكه كيدي په غيبو نه پوهيږي غير له الله نه۔**

**همدغه شان هغه ځوک چې د مخلوق باره کې دا عقيده ولري چې دا مخلوق په کائناتو کې تصرف او واک لري او د ژوند او مرګ اختيار لري، د الله پاک ارشاد دی:**

﴿أَمْ جَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوا۟ كَخَلْقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلْخَلْقُ عَلَيْهِمْۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّٰرُ﴾[الرعد: ١٦]

يا دوی د الله لپاره داسې شريکان مقرر کړي دي چې د هغه د پيدا کولو په شان پيدا کول يې کړي دي، بيا په دوی باندې پيدا کول مشتبه شويدي؟ ته ووايه: الله د هر شي پيدا کوونکي دي او هم هغه يو دي، ډېر غالب دي۔

همدغه شان هغه څوک چې د مؤمنانو پرته د کافرانو سره دوستي کوې د هغوې سره مينه لري او د هغوي سره مرسته او کومک کوې د الله پاک ارشاد دی:

﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ﴾ [المائدة: ٥١]

او په تاسو کې چه چا له دوی سره دوستي وکړه، نو يقيناً هغه له همدوي څخه دي.

همدغه شان هغه څوک چه کولی شي د دين اسلام په زده کولو باندې قادر شي او بيا پخپل اختيار سره د دين اسلام د زده کولو نه مخ وگرځوې دا کافر دي، اگر که په حقيقت کې دي جاهل او ناپوهه هم وي ځکه چې ددې شمېر په هغه جاهلانو او ناپوهانو کې کيږې کوم چې کولاي شي خپل جهل

او ناپوهي لري کړئ ځکه خو الله پاک د مشرکانو باره کې فرمايلي دي:

﴿بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٱلۡحَقَّۖ فَهُم مُّعۡرِضُونَ﴾[الانبياء: ٢٤]

بلکې د دوي (کافر) اکثره خلق حق نه پيژني، نو دوي مخ ګروځونکي دي۔

الله پاک دوي ته جاهلان او ناپوهه ويلي دي ليکن دوي پخپل اختيار خپل ځانونه جاهلان او ناپوهه ګرځولي دي.

په يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ مُعۡرِضُونَ ﴾[الأحقاف: ٣]

او کافران شوي کسان له هغه (قرآن) نه چې دوي پرې وېرولي شي، مخ ګرځوونکي دي۔

کله انسان د حق خبره واورئ او بيا دهغې نه اعراض وکړې نو د هغه جهل او ناپوهي بيا هيڅ عذر ندي، داسي ګمراهان په امت کې ډېر زيات وي ځکه چې هغوې د حق خبره واوري

خو بیا د هغې نه اعراض وکړي او خپل ځان د حق د وضاحت نه ناخبره کړي.

د شرعي او کوني دلائلو نه بې پروائي د ډیرو کافرانو عادت دي، د الله پاک ارشاد دی:

﴿وَكَأَيِّن مِّنْ ءَايَةٍ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ﴾ [یوسف: ۱۰۵]

او څومره ډېر دلیلونه دي په اسمانونو او ځمکه کې، چه دوي پرې تیرېږي، په داسې حال کې چه دوي له هغو نه مخ اړوونکي وي.

په یو بل مقام کې الله پاک فرمایلي دي:

﴿بَلْ أَتَيْنَٰهُم بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَن ذِكْرِهِم مُّعْرِضُونَ﴾ [المؤمنون: ۷۱]

بلکې مونږ دوي ته ددوي ذکر راووړ، نو دوي له خپل ذکر نه مخ اړوونکي دي.

د یو څه پوهي سره د انسانانو خپل منځي حقوق نه ساقطیږي، نو د دومره زیات شرعي اوکوني دلائلو سره به د الله پاک حق څنګه ساقط شي؟

انساني عقل چې کله د الله پاک د قدرت په نښو او دلائلو کې صحیح سوچ او فکر ونه کړئ، نو د دغه نښو او دلائلو نه هیڅ قسم فائده نشي اخستلی اګر که دغه دلائل او نښې ډیرې واضحه او ښکاره او هره ورځ په سترګو لیدل کیږي، د الله پاک ارشاد دي:

﴿ وَجَعَلۡنَا ٱلسَّمَآءَ سَقۡفًا مَّحۡفُوظًاۖ وَهُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهَا مُعۡرِضُونَ ﴾الانبیاء ۳۲

او مونږ اسمان محفوظ چت جوړ کړی دي او دوي (کفار) د هغه (اسمان) له نخښو نه مخ ګرځوونکي دي۔

انسان د خپل ګمان په وجه باندي په دي غلط فهمۍ کې واقع کیږي، چه د حق د تفصیلي معلوماتو نه مخ ګرځول او هغه

شاته غورځول به دي د هغه څه نه بچ کړي کوم چه ددي سره د حکم په لحاظ سره پیوسته کیږي.

## حق نه د مخ اړولو لاملونه:

د حق نه قبلول او دهغې نه اعراض کول او مخ اړولو لامل او سبب خو یا تکبر او غرور وي، او یا خواهشت پرستي وي، همدا وجه ده چې کله په ده باندي یو مصیبت ، یا ازمیښت وغیره راشي نو دده تکبر او غرور او خواهشات ختم شي، بیا ورته حق ډیر واضحه ښکاره شي، او حق ته رجوع هم کوئ.

## پنځم فصل

د ایمان تعریف: په ژبه اقرار، په اندامونو عمل او په زړه سره عقیده، دي دري واړو ته ایمان وائي ددي داسي مثال دی لکه د ماښام مونځ چې دري رکعته دی، که چیرته په دي دري رکعتونو کې یو رکعت هم کم شي نو بیا ورته د ماښام مونځ نه ویل کیږي، همدغه شان ایمان هم دري اجزاء (برخي) لري چې په ژبه اقرار، په اندامونو عمل، او په زړه سره تصدیق او

عقيده لرل، که چيرته په دي دري واړو کي يو نه وي نو هغې ته شرعي ايمان نه ويل کيږي.

## دايمان اجزا (برخي) او دهغې حقيقت (قول عمل، او اعتقاد)

د ايمان اجزاء ( برخي) چي اقرار، عمل او عقيده دي، دايمان په دي برخو کي چي يوه برخه نه وي نو إيمان، إيمان شرعي نه پاتې کيږي، ځکه چي اسلامي شريعت په إيمان کي دا دري واړه برخي (په ژبه اقرار، په اندامونو عمل، او په زړه کي عقيده) لازمي گرځولي دي.

د عقيدي نه دا مراد نده چي دعامو انسانانو سره مرسته او کومک کول او د هغوي سره بغض او حسد نه کول، ځکه چي دي ته دعامو خلکو زړونه ميلان کوي، اگر که د الله په وجود او وحدانيت إيمان هم نلري، بلکه د عقيدي نه مراد په زړه سره عقيده او تصديق او عمل کول دي.

## په زړه سره اعتقاد او د هغي وضاحت:

په زړه سره ددي حقيقت تصديق او يقين كول چې د عبادت او بندګئ حقدار يواځې الله پاک دي، هيڅ شريک نلري، او محمد صلى الله عليه وسلم د الله پاک بنده او پيغمبر دي، او هغه دين او شريعت چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله پاک د خوانه د بشريت د سوكالۍ د پاره راوړي دي هغه حق دي.

په زړه سره عمل او دهغي وضاحت: دزړه عمل د الله پاک او د هغه د پيغمبر او د هغه د دين سره مينه كول، او عبادت او بندګي يواځې په اخلاص سره د الله پاک لپاره كول دي ته د زړه عمل وائي.

د ايمان په اجزاء ( برخو) كې وينا يواځې دا نده چې په خبرو كې رشتنوالی، د مور او پلار سره په نرمي خبري او تعامل كول، په نورو خلكو باندي سلام اچول، او هغه چاته لاره ښودل د چانه چې لاره وركه شوي وي، ځكه چې دا كارونه هر څوک

خوښوي تردي چئ کافر او ملحد انسان هم دا کارونه خوښوې، بلکه په ایمان کې هغه قول او

وینا معتبره ده کوم کومه چې د محمد صلی الله علیه وسلم شریعت معتبره ګرځولي وې، په ایمان کې تر ټولو لویه وینا هغه د توحید او رسالت اقرار دي او د الله پاک تسبیح ( پاکوالی) بیانول، او د الله پاک کبریاء ( لوئي) بیانول دي.

د ایمان په اجزاء (برخو) کې عمل کول یواځې دا ندی چې دنیکئ کارونه کول لکه د مور او پلار سره احسان کول، او د لاري نه ضرري څیز لري کول، مسکین او بیوزله ته خوراک ورکول د مظلوم مرسته او مدد کول، د میلمه احترام کول ځکه چې داکارونه هرڅوک ښه ګڼي اګر که د ایماني دولت نه محروم وي، بلکه په ایمان کې هغه عمل معتبر دي د کوم چئ محمد صلی الله علیه وسلم مونږ ته بیان او وضاحت کړي دي، لکه د لمانځه، زکات، روژې، حج وغیره پابندئ کول.

د نيکۍ هغه کارونه په کومو کې چې ټول اسماني دينونه متفق دي: لکه د عامو خلکو سره همدردي، په خبرو کۍ رشتيا ويل، د مور او پلار سره احسان کول، بيوزله خلکو ته خوراک ورکول، د لارې نه ضررې څيز لرې کول وغيره، دا کارونه چې کله د الله پاک د رضا په خاطر په اخلاص سره وکړې شي نو په دې سره ايمان کې زيادت راځې، خو داسې نده چې ددې کارونو په نه کولو سره بنده د ايمان نه محروميږي، او داسي هم نده چې ددې کارونو په کولو سره هر څوک د ايمان نه برخمن کيږي، بلکه دا کارونه يواځې په دې دلالت کوې، چې دا انسان پخپل اصلي فطرت باندې باقي پاتيدې، او ددې فطرت ندی خراب شوې، داسې فطرت د حق قبلولو ته ډير نيزدې وي، لکه الله پاک فرمائلي دي:

﴿فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ﴾[الروم: ٣٠]

(تاسو لازم ونيسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پيدا کړې دې۔

ايمان كئ زيادت، نقصان، او زوال هم راځي په طاعت او بندګئ سره ايمان زياتيږي، او په معصيت او ګناه كولو سره ايمان كميږي، او په كفر او شرک سره ايمان زائله كيږي، او ختميږئ، د الله پاک ارشاد دى:

﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ [الأنفال:٢]

بيشكه خبره همدا ده چې مؤمنان هغه خلق دي، چه كله الله ياد كړاي شي، نو د دوی زړونه ووېرېږي او كله چه دوي ته د هغه (الله) آيتونه تلاوت كړاي شي (نو) دغه (آيتونه) دوي ته ايمان ورزيات كړي او خاص پخپل رب باندې دوي توكل كوي۔ په يو بل مقام كئ الله پاک فرمايلي دي: ﴿وَيَزْدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِيمَٰنًا ﴾[المدثر :٣١]

او د هغو كسانو ايمان زيات شي چې ايمان يې راوړی دي.

همدغه شان د الله پاک ارشاد دی:

﴿ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِيمَٰنٗا مَّعَ إِيمَٰنِهِمۡۗ ﴾ [الفتح :٤]

**دغه (الله) هغه ذات دي چه د مؤمنانو په زړونو کې یې سکون (اطمینان) نازل کړ، ددې لپاره چه دوي د خپل (مخکیني) ایمان سره د ایمان په لحاظ نور ورزیات شي.**

## د کفر نه بعد د إیمان د ثبوت لپاره یو څو خبري ضروري دي:

**په زړه سره اعتقاد ( په زړه سره د توحید او رسالت تصدیق کول، او په زړه سره عمل ( د الله پاک او د هغه د رسول سره مینه کول، همدغه شان د هر هغه څه سره مینه کول کوم چه د الله پاک او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم خوښ وي.**

**د تصدیق نه بعد بیا په ژبې سره اقرار کول، او بیا په اندامونو سره عمل کول، دي ته شرعي إیمان وائي.**

هغه څوک چئ په زړه سره تصديق وکړئ او په ژبئ سره په اقرار کولو قادر وي خو په ژبه اقرار ونه کړئ مؤمن نه دی.

همدغه شان هغه څوک چئ په زړه سره تصديق وکړئ او په ژبئ سره اقرار وکړئ، او په عمل کولو باندي قادر وي خوعمل ونه کړئ مؤمن نه دی.

او هغه څوک چي په ژبه باندي اقرار او په اندامونو باندي عمل کول غواړئ خو نشي کولاي چئ اقرار او عمل وکړئ دا مؤمن دي، ځکه الله پاک فرمايلي دي:

﴿ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ [البقرة:٢٨٦]

او الله هيڅ يو نفس نه مکلف کوي مګر د هغه له وَس سره سم.

يو بل مقام کي الله پاک فرمايلي دي:

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَآ ءَاتَىٰهَا﴾[الطلاق:٧]

الله هېڅ يو نفس نه مکلف کوي مګر هغومره چه ده ته يي ورکړی دي.

هر کله چي مسلمان د إيمان ضد (منافي) کارونو کي واقع شي نو د هغه ايمان ټول د مينځه ځئ، برابره خبره ده چئ د ايمان دا منافئ کارونه د قول( وينا) سره تعلق لري، يا د عمل سره تعلق لري يا د عقيدې سره تعلق لري، ځکه چئ صحيح عقيده او عمل او قول همدا دري واړه صحيح ايمان دي، ددي مثال داسي دی لکه د ماښام دري رکعته مونځ کله چئ مونځ کونکی د ماښام د لمانځه په يو رکعت کې يو داسي عمل ترسره کئ چئ هغه دغه رکعت لره باطل کړئ نو په دي سره د دغه مونځ کونکي د ماښام ټول مونځ باطل شو اګر که دې لمونځ کونکي د ماښام نور دوه رکعته صحيح ادا کړي وي.

دا خبره زمونږ د مخکئ خبري سره – چئ ايمان په نيک عملونو سره زياتيږئ او په ګناهونو سره که کبيره وي يا صغيره وي کميږئ- ټکراو نلري لکه څنګه چئ لمونځ په يو داسي عمل سره چئ د لمونځ منافي وي لمونځ باطليږئ خو دا ددي منافي نه دي چه لمونځ په نيک عمل سره لکه په لمانځه کئ خشوع او

عاجزئ کول او اوږد قيام کولو سره د لمانځه اجر او ثواب زياتيږئ، او په ځيني ممنوع کارونو سره د لمانځه اجر او ثواب کميږئ خو لمونځ باطليږئ نه، لکه لمانځه کئ بره کتل، يا لاسونه په سجده کئ د سپي په څير زمکئ سره جوخت لګول وغيره همدغه شان د ايمان زيادت او کموالی هم دي.

د ايمان ضد او منافئ کارونه يواځئ هغه کارونه دي کوم چئ په شريعت اسلامي کئ بيان شوي دي، همدغه شان د لمانځه باطلونکي کارونه يواځي هغه دي کوم چئ په شريعت اسلامي کئ بيان شوي دي.

## شپږم فصل

## د الله پاک د أسماء او صفاتو بيان:

الله پاک خکلي نومونه او صفتونه لري، او د الله جل جلاله په باره کئ هيڅوک د هغه نه زياته پوهه نلري، ددي د وجئ نه مونږ د قران او سنت موافق هر هغه څه نفي کوو، کوم چئ د

هغه د شان سره مناسب نوي او هغه خپله د خپل ځان نه نفي کړئ وي، او هر هغه څه الله پاک لپاره ثابته وو کوم چئ د الله پاک د شان سره لائق وي، او هغه د خپل ځان لپاره ثابت کړي وي.

مونږ هغه څه چئ د الله پاک د شان سره مناسب نه وي نفي کوو، او په دي نفي کولو کې اجمال کوو، يعني هغه څه نفي کوو، کوم چئ په قرآن او سنت کې د هغې نفي راغلي وي.

او هغه څه چئ د الله پاک د شان سره لائق وي د الله پاک لپاره ثابته وو، او پدي کئ تفصيل کوو، يعني هغه څه چئ په قرآن او سنت کئ د هغئ تفصيل راغلي وئ، نو د هغي تفصيل کوو.

مونږ د قرآن او سنت سره سم د الله پاک د نومونو او صفتونو په ثابته ولو کئ د هغئ د کيفيت تعيين نه کوو، او نه د هغئ د مخلوق سره تشبيه او (يو شان) والى کوو.

او هغه نیمګړتیاوي چې د الله پاک نه د هغي تفصیلي نفي راغلي وي مونږ هم د هغي تفصیلي نفي کوو، لکه الله پاک د خپل ځان نه د بچو او ښځې نفي کړیده، د الله پاک ارشاد دی:

﴿أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٌ﴾[الأنعام:١٠١]

د هغه لپاره به اولاد څرنګه وي، حال دا چه د هغه لپاره هیڅ ښځه نشته.

په یو بل مقام کې الله پاک فرمایلي دي: ﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾ [الإخلاص:٣]

نه يې (څوك) زېږولی دي او نه دي (له چا) زېږول شوی دي.

همدغه شان الله پاک د خپل ځان نه د بخل صفت نفي کړي دي او رد يې کړي دي په یهودیانو باندي، ځکه چې هغوې الله پاک ته د بخل نسبت کړی وو.

د الله پاک ارشاد دی:

﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌۚ غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَلُعِنُواْ بِمَا قَالُواْۘ بَلۡ يَدَاهُ مَبۡسُوطَتَانِ﴾ [المائدة:٦٤]

وويل يهوديانو: د الله لاس تړل شوي دي، د دوي لاسونه دې وتړل شي او د دې وينا په سبب دې په دوی لعنت وشي۔

په قرآن او سنت کې چې څه ثابت وې مونږ همغه شان په هغې باندي ايمان لرو، لکه قرآن او سنت کې د الله پاک أسماء او صفات راغلي دي، نو مونږ په هغې باندي ايمان لرو او هغه د الله پاک لپاره حقيقتا ثابتوو، او ددي نه زيات تجاوز نکوو، ځکه چې الله پاک هيڅ مثل نلري، د الله پاک ارشاد دی:

﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾

[الشوری:١١]

د هغه په مثل هيڅ شی نشته۔ او هم دغه (الله) ښه اورېدونکی، ښه ليدونکي دي۔

مونږ لره جائز ندي چې د الله پاک صفات په مخلوق باندي قياس کړو، ځکه چې په قياس کې فرع او اصل ضروري وي، او

الله پاک يواځې تنها دي، هيڅ مثل، فرع، او اصل نلري بلکه الله پاک يواځې تنها بې نيازه او بې حاجته ذات دي، نه د چا نه پيدا دي، او نه تري څوک پيدا دي، او نه هيڅوک د هغه سره همسيال شته.

انساني عقل د فکر او سوچ يوه زريعه ده چې الله پاک دهغې خالق دي، انسان په خپل فکر او سوچ سره چې څه ويني، يا اوري د هغې اندازه لګوئ.

د مثال په توګه انساني عقل د الله پاک د وجود باره کې خبر واوري، حالانکه دي عقل انساني د الله پاک ذات ليدلی ندی نو د هغې قياس کوئ په نيزدي هغه څه باندي چه ده ليدلي وي، هر انسان عقل د الله پاک باره کې ددي خبر تصور کوئ د هغه څه سره سم چې ده ليدلي وي ددينه مخکې، او د هغې سره يې مثال ورکړئ، حالانکه د الله پاک هيڅ مثل او همسيال نشته په هيڅ عقل انساني کې، نو ځکه مونږ د الله پاک په نومونو او صفتونو باندي ايمان لرو، او په دي بهانه باندي د

هغئ تعطيل ( انکار نه کوو) چئ ګويا ددي سره د الله پاک لپاره ناکاره مثال لازميږئ، کوم مثال چئ د انسان په ذهن کئ راځئ، ددي مثال د نفي کولو لپاره مونږ د الله پاک نومونه او صفتونه نه نفي کوو، چي د قياس باطل په نفي کئ واقع شو، او د صحيح خبر په تکذيب کئ، بلکه مونږ د الله پاک نه دغه ناکاره مثالونه نفي کوو، کوم چئ د عقل انساني د تصور په نتيجه کئ ذهن ته راغلي دي، خو د هغه لپاره ټول هغه نومونه او صفتونه ثابته وو، کوم چي هغه د خپل ځان لپاره ثابت کړي دي، او خپل ځانونه وحي إلهي ته تسليمه وو ځکه د الله پاک ارشاد دي:

﴿ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا ﴾ [طه:١١٠]

دغه (الله) پوهيږي په هر هغه څه چي ددوي په وړاندې دي او په هر هغه څه چي د دوي وروسته دي او دوي د هغه د علم إحاطه نشي کولی.

په يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي:

﴿ لَّا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَهُوَ يُدۡرِكُ ٱلۡأَبۡصَٰرَۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ﴾ [الأنعام:١٠٣]

سترګي د هغه إدراك نشي کولی او هغه د سترګو إدراك کولی شي او هغه ډير باريکبين، ښه خبردار دي.

الله پاک بره د عرش د پاسه دي څنګه چې د هغه د شان سره لائق وي، د الله پاک ارشاد دي:

﴿هُوَ ٱلۡأَوَّلُ وَٱلۡأٓخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلۡبَاطِنُۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ٣ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۚ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۖ وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴾ [الحديد :٣-٤]

همدغه (الله) اول دي (هيڅ شي له هغه نه مخکې نه وو) او آخر دي (له ده نه بعد هيڅ شی نشته) او لوړ دي (په هر شي

بره دي) او باطن دي (له ده په وړاندې هیڅ شی پټ ندي) او هغه په هر شي باندې ښه پوه دي

دي هغه ذات دي چې أسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پیدا کړیدي، بیا دي په عرش باندې برقراره شوـ، دي عالم دي په هر شي چې په ځمکه کې ننوځي او په هر هغه شي چې له دې نه راوځي او په هر هغه شي چې له أسمانه راکوزېږي او په هر هغه شي چې په ده کې پورته خیژي او دغه (الله د خپل شان سره لایق) له تاسو سره دي، هر چیرې چې تاسو یئـ او الله هغو کارونو لره چې تاسو يې کوئ، ښه لیدونکی دي.

پدي آیتونو کئ الله پاک د خپل ځان لپاره په عرش باندي استوا ( بره والي) ثابت کړیدي چئ د ذات په نسبت سره د عرش لپاره دي او د علم په نسبت سره په هر ځاې کئ دي، او د بندگانو سره يي د معیت خبر ورکړی چئ د علم او لیدلو او

اوريدلو په نسبت سره د هغوي سره دي. لکه څنګه چې الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ﴾

او دغه (الله د خپل شان سره لايق) له تاسو سره دي، هر چيرې چې تاسو يئ.

پدي لحاظ سره الله پاک د خپلو اولياؤ سره وي د هغوي تاييد، مرسته، او کومک کوئ، لکه څنګه چې الله پاک موسی او هارون عليهم السلام ته فرمايلي وو

﴿ قَالَ لَا تَخَافَآۖ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسۡمَعُ وَأَرَىٰ ﴾ [طه : ٤٦]

(الله) وويل: تاسو مه وېرېږئ، بيشکه زه له تاسو سره يم، زه اورم او زه وينم.

الله پاک مشيئت او کامله اراده لري، چې هر شي ته د هغه مشيئت او اراده شامله ده، هغه څه کيږئ کوم چې الله پاک وغواړئ، او هغه څه چې الله پاک يي ونه غواړي نه کيږئ.

مونږ هم د الله پاک لپاره مشيئت او اراده ثابته وو، لکه څنګه چې الله پاک پخپله د خپل ځان لپاره ثابته کړېده، او په همدي حد توقف (ودريږو) او په دي کې بي ځايه بحثونه نه کوو، لکه څنګه چې عقل پرست خلک په دي باره کې بي ځايه بحثونه کوئ او د ډيرو ناشوني کارونو او تناقضاتو ښکار شي، نو مونږ د الله پاک په صفتونو داسي ايمان لرو، لکه څنګه چې هغه جل جلاله فرمايلي دي:

﴿قَالَ كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ﴾[آل عمران: ٤٠] هغه وويل: همداسې الله کوي څه چې وغواړي۔

په يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي: ﴿وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ﴾[البقرة: ٢٥٣]

او ليکن الله کوي هغه څه چې اراده يي وکړي.

او الله پاک فرمايلي دي:

﴿ذُو ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡمَجِيدُ ١٥ فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ﴾ [البروج: ١٥-١٦]

د عرش مالك دي، لوي شان (او عزت) والا دي ډېر كوونكي دي هغه څه لره چې دي يې اراده وكړي.

مونږ د الله پاک لپاره هغه نومونه او صفتونه ثابتوو، كوم چې په شرعي نصوصو ( قرآن او سنت) سره ثابت وي، او د خپل ځانه په هغې كې بحثونه نه كوو، اومونږ د الله پاک نه هغه څه هم نفي كوو چې انساني عقل هغه عيب ګڼي اګر كه په شرعي نصوصو كې نه وي راغلي لكه خفګان، ژړا، ولږه وغيره، دا ټول مونږ د الله پاک نه نفي كوو اګر كه په شرعي نصوصو كې ددي يادونه نده شوې.

## اوم (٧) فصل

**قران كريم د الله پاک كلام دي، الله پاک ددي په حروفو او آيتونو، اوسورتونو سره حقيقتا تكلم (خبري) كړي دي.**

دي باره کې مونږ دا نه وايو، چې دا د يوې بلې معنی عبارت او د هغې نه حکايت دي، بلکه مونږ وايو چې کلام د الله پاک صفت ازلي ( هميشه) دي کله چې وغواړي کلام کوئ د الله پاک ارشاددی﴿وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكۡلِيمٗا﴾ [النساء : ١٦٤] او الله له موسٰی سره خبرې کړي دي، واضحې خبرې

په يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ﴾[الاعراف : ١٤٣]

او کله چې موسٰی زمونږ ټاکلي وخت ته راغي او خپل رب يې ورسره خبرې وکړې. د الله پاک کلام همدغه د هغه وينادہ د الله پاک ارشاد دی: ﴿وَٱللَّهُ يَقُولُ ٱلۡحَقَّ﴾ [الأحزاب: ٤] او الله حق وايي.

د الله پاک کلام همغه دي کوم چې په سينو د قاريانو کې محفوظ وي، دالله پاک ارشاد دي:

﴿بَلۡ هُوَ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ فِي صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَۚ﴾[العنكبوت: ٤٩]

بلکي دغه (قرآن) ښکاره ایتونه دي د هغو خلقو په سینو کي چي هغوي ته علم ورکړی شوی دی۔ او زمونږ له آیتونو نه انکار نکوي مګر ظالمان۔

د الله پاک کلام همغه دي کوم چئ په غوږونو اوریدل کیږي، دالله پاک ارشاد دی:

﴿وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ٱسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ﴾[التوبة : ٦]

او که په مشرکانو کي یو تن له تا نه امان (پناه) وغواړي، نو هغه ته امان ورکړه تر هغه پوري چي هغه د الله کلام واوري۔

سره ددینه چئ د الله پاک د کلام مبلغ او رسونکي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وو، خو په دي سره دا د الله پاک د کلام نه بهر کیږئ نه بلکه کلام د الله پاک دي او رسونکي د هغي د الله رسول صلی الله علیه وسلم دي.

د الله پاک کلام همغه دي کوم چئ د قرآن په کرښو کئ لیکل شویدي، دالله پاک ارشاد دي:

﴿ وَكِتَٰبٍ مَّسۡطُورٍ ٢ فِي رَقّٖ مَّنشُورٖ ﴾[الطور : ٢-٣]

او په کتاب لیکل شوي۔ په پرانستل شوي پاڼه کې

د الله پاک کلام قرآن کریم الله پاک د خپل ځان سره په لوح محفوظ کې ساتلی دي، د الله پاک ارشاد دی:

﴿ بَلۡ هُوَ قُرۡءَانٞ مَّجِيدٞ ٢١ فِي لَوۡحٖ مَّحۡفُوظِۢ ﴾ [البروج: ٢١-٢٢]

بلکې دغه د لوي قدر والا قرآن دي، په لوح محفوظ کې دي

یو بل مقام کې الله پاک فرمایلي دي:

﴿ وَإِنَّهُۥ فِيٓ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ لَدَيۡنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴾[الزخرف: ٤]

او بیشکه دا په أم الکتب (لوح محفوظ) کې زمونږ په نزد خامخا ډېر اوچت، ډېر حکمت والا دي.

قرآن په پاڼو کې د کتاب په شکل کې لیکلو سره د الله د کلام نه نه وځې ځکه چې دغه پاڼې او سایي مخلوق دي خو دا لیکل شوي قرآن د الله پاک کلام دی، د الله پاک ارشاد دی:

﴿ وَلَوۡ نَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ كِتَٰبٗا فِي قِرۡطَاسٖ ﴾[الأنعام : ٧]

او كه چيرې مونږه په تا باندې په كاغذ كې (ليكلى) كتاب نازل كړ.

پدې آيت كريمه كې الله پاک دوه شيان ذكر كړي دي، يو كتاب چې د الله پاک كلام دي، او بل هغه پاڼې چې دا قرآن په كې ليكل شويدي، هغه پاڼې مخلوق دي.

الله پاک پخپل فرمان إلهي سره ثابته كړې چې قرآن د هغه كلام دي مخلوق ندي، اګر چې قرآن په كومو قلمونو او رنګونو ليكل شوي هغه قلمونه او رنګونه مخلوق دي، د الله پاک ارشاد دی:

﴿ وَلَوْ أَنَّمَا فِى ٱلْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَـٰمٌ وَٱلْبَحْرُ يَمُدُّهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَـٰتُ ٱللَّهِ ﴾ [لقمان : ٢٧]

او كه په رښتيا سره هره هغه ونه چې په ځمكه كيده، قلمونه شي، په داسې حال كې چې (سياهي شي) دغه (محيط) بحر، (بيا) د ده مدد نور اوه (٧) بحرونه وكړي (نو) د الله كلمات به خلاص نشي.

يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي:

﴿قُل لَّوۡ كَانَ ٱلۡبَحۡرُ مِدَادٗا لِّكَلِمَٰتِ رَبِّي لَنَفِدَ ٱلۡبَحۡرُ قَبۡلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَٰتُ رَبِّي وَلَوۡ جِئۡنَا بِمِثۡلِهِۦ مَدَدٗا﴾

ته (دوي ته) ووايه: که سمندر زما د رب د کلماتو لپاره سياهي وي، (نو) سمندر به خامخا خلاص شي، مخکې له دې چې زما د رب کلمات تمام شي، اګر که مونږ د دغه (سمندر) په مثل مدد هم راوړو.

نو د الله پاک ټول کلمات که په قلمونو ليکل شوي وي او که نه وي ټول دالله کلام دي او مخلوق نه دی.

او هرڅوک چې دا عقيده ولري چې د الله پاک کلام مخلوق دي کافر کيږئ، ځکه چې د الله پاک کلام د هغه صفت دي، او الله پاک د خپل کلام او مخلوق په مينځ کې فرق بيان کړيدي. د الله پاک ارشاد دی:

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا

وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ [الأعراف: ٥٤]

**بیشکه ستاسو رب هغه الله دي چې اسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړیدي، بیا د عرش له پاسه برقراره شو، هغه په شپې سره ورځ پټوي، په دې حال کې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب کوي او (پیدا کړې یې ده) لمرسترګه، او سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حکم سره مسخر کړی شوي دي، اګاه شئ! خاص هغه لره دي پیدا کول او حکم کول، ډېر برکت والا دي الله چې رب العلمین دي۔**

**په دي آیت کریمه کې الله پاک د خپل مخلوق په مینځ کې چې اسمانونه دي، ځمکه ده، لمر او سپوږمې او ستوري دي، او د خپل أمر په مینځ کې چې د هغه کلام دي هغه کلام چې دا مخلوق یې وربانديي پیدا کړیدي فرق بیان کړیدي:** ﴿ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ ﴾

چي د هغه په حکم سره مسخر کړيشويدي.

الله پاک د لوستونکو اوازونه پيدا کړيدي هغه داسي چې د لوستونکي لپاره الله پاک شونډې، ژبه، مرۍ، او په هغې کې هوا، او په خوله کې لاړي او د ژبي حرکت وغيره پيدا کړي، او ددي خبري سره هيڅ منافات او ټکراو نلري چې لوستونکی چې د قران تلاوت کوئ او کوم چې اوريدلی کيږئ دا د الله تعالی کلام دي، لکه څنګه چې الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَقَدۡ كَانَ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَسۡمَعُونَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ﴾ [البقرة: ٧٥]

او يقيناً په دوي کې يوه ډله وه چې د الله کلام به يې اورېده۔

د لوستونکي د تلاوت په مهال چې کوم قرآن اوريدلی کيږئ دا د الله پاک کلام دي مخلوق نه دی، اګر که د قارئ اواز مخلوق دي، لکه ددي وضاحت علماو داسي کړيدي، چې د قارئ اواز د هغه اواز دي مخلوق دي، او د باري سبحانه وتعالی کلام د باري سبحانه وتعالی کلام دي مخلوق ندی.

# اتم فصل

شرعي حقيقت په نقل (قرآن او سنت) او عقل انساني سره معلومیږئ، یواځې نقل (قرآن او سنت) بیعقله ته فائده نه ورکوي، همدغه شان یواځې عقل هغه چاته فائده نه ورکوئ څوک چې د نقل (قرآن او سنت) نه محرومه وي.

د شرعي حقيقت معلومولو لپاره نقل (قرآن او سنت) اوعقل انساني دواړه ضروري دي او دي دواړو کې د یو په کمي سره د شرعي حقيقت په معلومولو کې نقصان او کمی راځي.

او که چیرته په ظاهر کې د نقل او عقل په مینځ کې تعارض او ټکراو راغی نو اعتبار به نقل ته ورکولي شي ځکه چې نقل د خالق پروردګار چې د کمال څښتن دي دهغه علم دي، او عقل د انسان چې کمزوری مخلوق دي د هغه علم د.

عقل انساني د سترګو او نقل إلهي د رڼا مثال لري، نو د تورو شپو په توره تیاره کې انسان ته د هغه سترګې هیڅ فائده نشي ورکولی، همدغه شان انسان ته د هغه عقل د نقل إلهي نه بغیر هیڅ فائده نه ورکوئ.

**نو څومره چې رڼا زياته وي سترګې انسان ته ډيره فائده ورکوي همدغه شان چې څومره د انسان سره د وحې الهي رڼا وي همغومره ورته دهغه عقل د وحي إلهي په رڼا کې فائده ورکوي**

**او چې کله د انسان سره د هغه عقل او وحي إلهي کامله شي نو دهغه هدايت او بصيرت کامل شي، لکه څنګه چې د انسان ليدل د ورځې په غرمه کې کامل او پوره وي. د الله پاک ارشاد دی:**

﴿أَوَمَن كَانَ مَيۡتٗا فَأَحۡيَيۡنَٰهُ وَجَعَلۡنَا لَهُۥ نُورٗا يَمۡشِي بِهِۦ فِي ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ﴾ [الأنعام : ١٢٢]

ايا هغه څوك چې مړ وو، بيا مونږ هغه راژوندی کړ او مونږ د هغه لپاره رڼا پيدا کړه چې په هغې سره هغه په خلقو کې ګرځي راګرځي؛ د هغه کس په شان دي چې د هغه حال (داسې وي چې هغه) په تيارو کې دي۔

انسان پخپل عقل انساني سره په دنيا کې داسي فائدې او ګټې حاصلوي لکه څنګه چې د دنياوي کارونو په إدراک سره الوتونکي مرغان او ګرځيدونکي حيوانات وغيره هم دغه فائدي حاصلوئ، هغه داسي چې مرغان، حيوانات وغيره د سرولو لپاره په يو خاص وخت کې وځئ، خپل مينځ کې يو بل سره پيژني، د تګ او راتګ لاره ورته معلومه وي، مرغان خپلې جالي پخپله جوړوې، او حيوانات په پڼ غالي کې راجمع کيږئ او خپل دښمنان ليوان وغيره هم پيژنئ وغيره، همدغه شان انسان هم خپل دنياوي مصالح پيژني پخپل عقل انساني سره خو انسان يواځې په خپل عقل انساني سره په بشپړه توګه د خپل رب معرفت ته لار نشي موندلي، مګر د وحې إلهي په مټ کولاي شي چې د خپل رب معرفت حاصل کړئ او هغه ته ځان ورسوي، ځکه چې انسان د وحي إلهي نه پرته په تورو تيارو کې دي، د الله پاک ارشاد دی:

﴿ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوۡلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخۡرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِ﴾ [البقرة : ٢٥٧]

**او الله د هغو کسانو دوست دي چې ايمان يې راوړيدي، هغه دوي لره له تيارو نه رڼا ته راوباسي، او هغه کسان چې کفر يې کړيدي؛ د هغوي دوستان شيطانان دي، دغه (شيطانان) دوي لره د رڼا نه تيارو ته وباسي،**

الله پاک فرمايلي: ﴿يُخۡرِجُونَهُم﴾راوباسي دوي لره د تيارو نه

**ځکه چې دوي د وحي إلهي نه بغير په تيارو کې دي.**

**ځنگه چې رڼا يوه ده اګر که د هغې انواع مختلف دي، چې يوه نوعه يي اور دي، او بله نوعه يي عام نور، او روشنايي ده همدغه شان وحي إلهي هم يوه ده اګر چې د هغي نوعي مختلفي دي چې يوه نوعه يي د الله کتاب دي او بله نوعه يي د نبي کريم صلى الله عليه سنت دي.**

**د الله پاک ارشاد دی:**

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ ﴾ [النساء: ٥٩]

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دي! د الله خبره منئ او د رسول خبره منئ ـ

**هغه څوک چئ دعوه کوئ او دا وائي چئ زه یواځې د عقل په مټ د خپل رب معرفت ته رسیدلی شم، دي د هغه چا په شان دي چئ دعوه کوئ او دا وائي چئ زه د شپې په توره تیاره کئ د خپلو سترګو په مټ د رڼا نه پرته کولي شم چئ خپل مقصد ته ورسیږم، نو په حقیقت کئ دا دواړه د یو ښکاره حقیقت نه انکار کوي، لومړی بیدینه دي، او دویم د دنیا نه بیبرخي دي.**

**الله پاک خپلي وحي اسماني ته د رڼا نوم ایښی دي ځکه چئ پدي سره خلک هدایت او سمي لاري ته رسیږي، د الله پاک ارشاد دی:**

﴿فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ﴾ [الأعراف: ١٥٧]

نو هغه کسان چې په ده يې ايمان راوړ او دده ادب يې وکړ او د ده مدد يې وکړ او د هغې رڼا پيروي يې وکړه چې له ده سره نازله کړيشوېده، همدغه کسان کامياب دي۔

د وحي الهي په مټ باندي پيغمبران او د هغوي اتباع په هدايت او سمه لار روان وي.

نو مونږ د الله پاک ټول حکمونو ته غاړه ږدو، او دهغي تصديق کوو، که مونږ ته د هغي علت او وجه معلومه شي نو يقين ورباندي کوو، او که د حکم شرعي علت او حکمت مونږ ته معلوم نشي، نو مونږ د هغي تصديق کوو، او ورته تسلميږو ځکه چې هر يو عقل د هر شي إدراک ( معلومول) نشي کولی نو د هغه شيانو إدراک به څنګه وکړي د کوم نه چې ټول عقلونه عاجز وي؟

او هغه څوک چې دعوه کوي او دا وائي: چې زه په هغه حکم شرعي باندي ايمان او يقين نلرم کوم چې زما د عقل په زور معلوم نشي، په حقيقت کې دا شخص خپل عقل انساني په وحي إلهي باندي مخکي کوي، خو هر هغه څه چې عقل انساني ورته نه رسيږي په دي دلالت نه کوي چې دغه شيز نشته بلکه هغه شيز موجود وي خو دده د عقل د کمزوري د وجې نه هغه نشي معلومولی، ځکه چې د عقل يو اخري حد وي چې د هغې نه اخوا هيڅ کار نشي کولی، لکه څنګه چې د سترګو د ليدلو يو خپل محدود طاقت وي چې دهغي نه اخوا هيڅ نشي ليدلی، همدغه شان د غوږونو د اوريدلو خپل محدود طاقت وي چې د هغي نه اخو هيڅ نشي اوريدلی، سره د دينه چې د دينه اخوا ډير نور مخلوقات وجود لري، د ميږي لپاره اواز شته خو د انسان غوږونه دا طاقت نلري چې د هغي اواز واوري وغيره، همدغه شان ددي مخلوقاتو په خالي

ګاه کئ دننه ډیر ستوري وغیره وجود لري خو د انسان سترګې دا طاقت نلري چې هغه ووینې.

## نهم فصل

شریعت او قانون سازي یواځې د الله پاک حق دی هغه د خپل علم او حکمت سره سم ځیني کارونه حلال او ځیني نور بیا حرام ګرځوي، شریعت إلهي د دین او دنیا دواړو د سمون او

اصلاح ذريعه ده، د الله پاک اوامر او نواهي مکلف انسانانو ته په هر ځاي او هره زمانه کښ متوجه وي، او د هغه نه پرته هيڅوک د هغه حکمونه نشي لري کولی.

د دين او دنيا په اړوند چې الله پاک هرقسم قانون سازي او حکم جاري کړي وي مونږ په هغې کښ هيڅ قسم بدلون نشو کولی، ځکه هغه ټول د الله حکمونه دي برابره خبره ده چې د دين اړوند وي يا د دنيا.

د الله پاک ديني حکمونه: لکه لمونځ، روژه، حج، د الله پاک ذکر، او د مسجدونو جوړول وغيره.

دالله پاک دنياوي حکمونه لکه د بيع (خرڅلاو)مسائل د نکاح او طلاقو، او د ميراث وغيره مسائل.

او هرڅوک چې د الله پاک په حکمونو کې تفريق او جداوالي راولي، په داسي طريقه چې ديني حکمونه د الله لپاره او د دنيا اړوند حکمونه د غير الله لپاره ګرځوي کافر کيږي، ځکه چې شريعت او قانون سازي يواځې د الله پاک حق دی، او چې دا

**حق څوک غير الله ته ورکوي داسي مثال لري لکه چئ سجده غير الله ته کوئ، د الله پاک ارشاد دی:**

﴿إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۚ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ﴾ [يوسف : ٤٠]

**حکم يواځې الله ته خاص دی، هغه حکم کړيدي چې تاسو يواځې د هغه عبادت کوئ،**

**او د همدي په وجه بني اسرائيل کافران شوي وو، د الله پاک ارشاد دي:**

﴿ ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴾

[التوبة : ٣١]

دوي خپل عالمان او خپل عابدان له الله نه غیر خدایان نیولي دي او د مریمې زوی مسیح (یې هم)، حال داچې دوی ته حکم نه وو شوی مګر ددې چې دوي دې د یو حق معبود عبادت کوي چې نشته هیڅ حق معبود مګر همدي دي، هغه پاك دي له هغه څه نه چې دوي یې (ورسره) شریکوي.

الله پاک دوي ددي کار په وجه مشرکان وبلل.

الله پاک خپل کتاب نازل کړیدي او هغه شریعت او قانون سازئ خپله کړیده، ځکه چې الله پاک په ټولو حالاتو ښه عالم دي هغه حالات چې مخکي تیر شویدي او هغه حالات چې روستو به راځي او هغه حالات چې موجود دي ټول د الله په علم کې راګیر دي.

دهغه د علم نه یو شي په دي وجه چې مخکي تیر شویدي نشي غایب کیدلي، همدغه شان د الله پاک د علم نه یوشي په دي وجه چې روستو به وجود ته راځي هم نشي غائب کیدلي.

او في الحال د يو کار په کيدلو سره د الله پاک په علم کئ زيادت نه راځي ځکه چی الله پاک ته د تيرې شوي زماني او د حال زماني او د راتلونکي زماني حالات يو شان روښانه دي او د هغه په علم کئ راګير دي.

او څوک چئ دا ګمان کوئ او وايي: چئ د الله پاک حکم په هغه زمانه کئ چئ نازل شوی وو، مناسب وو، او اوس پدي زمانه کي چئ خلک کوم قوانين جوړوي ددي زماني سره مناسب دي اګر که د الله پاک د قانون په خلاف کئ هم وي داسي ګمان او فکر کول کفر دي، ځکه چئ داسي ګمان کونکي پدي عقيده وي چئ د انسان ادراک د علم حاضر او غائب په نسبت سره بدليږئ رابدليږئ، نو د هغي حکم هم ددي سره بدليږئ او بيا دا ګمان کوئ چئ د الله پاک علم هم همداسي شان لري، نو انسان خپل علم حاضر د الله پاک په علم غائب چئ مخکي زمانه کئ د وحي د نزول په وخت وو په هغي مخکي کړئ او دا بيشکه کفر او شرک دي، ځکه چئ د الله پاک

په حاضر او غائب ټولو باندي یو شان کامل او پوره علم لري، د الله پاک ارشاد دی:

﴿عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ﴾[المؤمنون : ٩٢]

چې په غیبو او ښکاره و عالم دي، نو ډېر اوچت (پاك) دي هغه له هغو څیزونو نه چې دوي یې ورسره شریکوي.

د الله پاک علم په پټو او ښکاره څیزونو باندي یو شان برابر وي.

د الله پاک ارشاد دی: ﴿قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ عَٰلِمَ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ أَنتَ تَحۡكُمُ بَيۡنَ عِبَادِكَ فِي مَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ﴾ [الزمر : ٤٦]

ته وواېه: ای الله د اسمانونو او ځمکي پیدا کوونکیه، د غیبو او د ښکاره وو عالـمه، ته به د خپلو بنده ګانو په مینځ کې فیصله کوې، په هغو خبرو کې چې دوي به په هغو کې اختلاف کاوه۔

الله پاک د خپلو ټولو بندګانو په مینځ کې چې حاضر دي او که غائب دي فیصله کوئ.

څوک چې دیني او دنیاوي حکمونو مینځ کې فرق کوئ او وايي: چې شرعي او دیني قوانین د الله پاک حق دي او دنیاوي قوانین جوړول د انسانانو حق دي، لکه څنګه چې د لیبرالي مفکوري والا دا نظریه او عقیده لري دا کفر دي ځکه چې دوي په حقیقت کې په دوه بیلا بیلو قانون سازانو باندي ایمان لري یو قانون ساز الله پاک چې شرعي او دیني قوانین جوړوي او بل قانون ساز انسان چې دنیاوي قوانین جوړوي، او داسي عقیده لرل کفر دی، د الله پاک ارشاد دی:

أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ ﴾[البقرة : ٨٥]

ایا نو د کتاب په ځینې (حکمونو) ایمان راوړئ او په ځینو یې کافر کیږئ؟

او څوک چې د کتاب د یوي برخي نه منکر شو په حقیقت کې د ټول کتاب نه منکر شو.

الله پاک چئ په خپل نبي صلى الله عليه وسلم باندي کوم کتاب او رحمت نازل کړيدي په هغي سره الله پاک د خلکو په مينځ کئ د فيصلې کولو حکم کړيدي، د الله پاک ارشاد دی:﴿ وَأَنِ ٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ وَٱحۡذَرۡهُمۡ أَن يَفۡتِنُوكَ عَنۢ بَعۡضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ ﴾ [المائدة: ٤٩] او دا چې ته ددوی په مينځ کې فيصله کوه په هغه څه سره چې الله نازل کړيدي او ته ددوي د خواهشاتو پيروي مه کوه او ته له دوي نه محتاط اوسه (هسې نه) چې دوي تا له ځينو (هغه حکمونو) نه واړوي، چې تا ته الله نازل کړي دي.

مراد د حکم نه دلته فيصله کول دي د خپل منځي اختلاف په وخت کئ، او مراد د فتني نه دلته د الله پاک د حکم خلاف کول دي.

په کومو مسائلو کې چې وحي إلهي تفصيل او وضاحت نه وي کړي په هغي کې پوهه مجتهدين کولی شي چې د هغي تفصيل او وضاحت وکړي خو پدي شرط چې د هغوي تفصيل او اجتهاد د الله پاک د ثابت حکم په خلاف کې رانشي.

او هيڅکله به د خلکو حکم او فيصله په إلهي حکم او فيصله باندي نشي مخکي کيدلی، ځکه که چيرته د ولسونو او قومونو فيصله او حکم مخکي وي په إلهي فيصله باندي نو ټول پيغمبران به په حق نه بلکه باطل باندي وی، ځکه چې پيغمبران د داسي ولسونو او قومونو په مينځ کې راغلي دي چې هغوي ټول يا أکثر په باطل باندي راجمع شوی وو.

د الله پاک حکم ته د تسلميدو په خاطر ځيني سلفو علماوو ځيني فرعي مسائل د عقيدي په کتابونو کې ليکلي دي، ځکه چې د هغي نه ځيني گمراه ډلي انکار کوئ، حالانکه دغه مسائل په شرعي صحيح دلائلو سره ثابت دي، لکه په موزو باندي مسح کول، يا د سفر په دوران په لمانځه کې قصر کول

همدغه شان جهاد د إمام په تابعداري کئ کول. که إمام نیک وي او که فاجر وغیره، دغه ډول مسائل د وخت په تیریدو سره د خواهشت پرستو د خواهشاتو په بنیاد راتازه کیږئ، لکه د ښځو د حجاب او پردي مسئله شوه، مونږ إیمان لرو چئ د ښځو حجاب او پرده عادت نه بلکه عبادت دي، همدغه شان د ښځو او سړو د یو بل سره ګډون حرام دي، همدغه شان د مسلمانانو په خلاف د کفارو سره دوستانه کول حرام دي، مونږ إیمان لرو چئ د لور برخه په میراث کئ د ځوي د برخي د نیمایي برابره ده، د ښځي دیت د سړي د دیت د نیمایی برابر دي، ځکه چئ د مړي دیت د هغه قیمت ندي چئ ترځو د سړي او د ښځي دیت یو شان شي، بلکه په یوه ښځه باندي ډیر سړي په قصاص کي قتل کیږي چئ کله هغوي دا ښځه قصدا قتل کړي.

دیت د مړي قیمت ندي، بلکه د مړي د خپلوانو د زړه یو دسماله ده، مونږ په دي هم إیمان لرو چئ د واده شوي زنا کار

حکم په إسلام کئ په کاڼو باندي د هغه رجم کول دي، او دا د الله پاک په حدودو کئ یو مهم حد دي.

## لسم فصل

**د ټولو مخلوقاتو د پیدائش نه مخکي الله پاک د هرشي د تقدیر اندازه کړیده ، او هر یو مخلوق یي د هغه د تقدیر سره سم پیدا کړیدی د الله پاک ارشاد دي:**

﴿وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا ﴾[الفرقان: ٢] نو هغه يې په اندازه کړيدی، اندازه کول.

په يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي: ﴿إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ ﴾ [القمر: ٤٩]

بشکه مونږ هر شي لره، مونږ هغه په (ازلي) اندازې سره پيدا کړيدی۔ همدغه شان د الله پاک ارشاد دي: ﴿وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ قَدَرٗا مَّقۡدُورًا ﴾[الأحزاب: ٣٨]

او دي د الله أمر، قطعي ټاکل شوې فيصله۔

الله پاک د هر قسم تقدير که د خير وي او که د شر اندازه کړې ده، صحيح مسلم کې د عمر رضي الله عنه روايت دي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد دي: چې ته إيمان راوړي د خير او شر په تقدير باندي.

د الله پاک علم د تقدير لپاره لازم دي ځکه چې د مخلوقاتو د تقدير اندازه يواځې هغه ذات کولي شي، چې پدي ټولو

مخلوقاتو علم ولري، او ددي مخلوقاتو تفصيلي علم او د هغي ابتداء او انتهاء وغيره يواځې د الله پاک په علم کئ راګېر دي.

د الله پاک ارشاد دی:﴿لِتَعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَىْءٍ عِلْمًۢا ﴾ [الطلاق : ١٢]

ددې لپاره چې تاسو پوه شي چه يقيناً الله په هر شي باندې ښه قادر دي او دا چه يقيناً الله د علم په لحاظ هر شی راګېر کړيدي.

په يو بل مقام کئ د الله پاک ارشاد دي:﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ﴾ [الملك : ١٤]

ايا هغه ذات به نه پوهيږي چې يې (هر څه) پيدا کړيدي (ولې نه!) او هم دي ډېر باريکبين، ښه خبردار دي.

څوک چئ د الله پاک د تقدير نه منکر شو، په حقيقت کئ دي د الله پاک د علم نه منکر دي، او څوک چئ د الله پاک د علم نه منکر شو په حقيقت کئ هغه د الله پاک د تقدير نه منکر

دي، ځکه چې د الله پاک علم او د هغه تقدير د يو بل سره لازم او ملزوم دي.

د ټولو مخلوقاتو تقدير د الله پاک سره په کتاب کې ليکل شويدي، د الله پاک ارشاد دی:﴿مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖۚ﴾ [الأنعام: ٣٨] مونږ په کتاب کې هيڅ شی ندي پريښی.

په يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي: ﴿وَكُلَّ شَيۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ فِيٓ إِمَامٖ مُّبِينٖ ﴾ [يس: ١٢]

او هر شی، مونږ هغه په ښکاره أصل (لوح محفوظ) کې درج کړيدي.

### د الله پاک مخلوقات په دوه قسمه دي:

1- هغه تابع او بيواکه مخلوق، چې اختيار نلري، لکه ستوري ځمر سپوږمي وغيره.

2- بل قسم واکداره مخلوق چئ مشيئت او إراده لري، لکه انسانان، پيريان، فرشتي، دوي الله پاک بې اختياره ندي روان کړي چئ هيڅ اختيار او واک نلري تردي چئ گناه تري هم بې اختياره کيږئ او بيا ورته الله پاک ددي گناه په بدله کئ سزا ورکوئ بلکه دوي ته الله پاک اختيار ورکړی دي، او دوي ټول کارونه پخپل اختيار سره کوي، خو دوي پخپل اختيار کئ خپلواکه ندي، چئ د الله پاک سره شريکان شي په مشيئت او إراده کئ، بلکه ددوي مشيئت او إراده د الله پاک د مشيئت او ارادې تابع ده، د الله پاک ارشاد دی:

﴿إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٧﴾ لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾[التكوير: ٢٧-٢٩]

نه دي دا (قرآن) مگر د عالمونو لپاره نصيحت (او پند) د هغه چا لپاره چې په تاسو کې غواړې چې دي نيغ برابر شي. او

تاسو د (د سمې لارې) إراده نشئ کولې مګر دا چې الله رب العلمین یې إراده وکړي۔

الله پاک د بندګانو او د هغوی د افعالو (کارونو) خالق دی د الله پاک ارشاد دی:

﴿ قَالَ أَتَعۡبُدُونَ مَا تَنۡحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ﴾ [الصافات: ٩٥-٩٦]

ده وویل: ایا تاسو د هغه څه عبادت کوئ چې تاسو یې (پخپله) تراشئ۔, حال دا چې الله تاسو او هغه عملونه چې تاسو یې کوئ، پیدا کړیدي۔

الله پاک أسباب پیدا کړي او په هغي کئ یې اثر اچولی او هغه یې اسباب ګرځولي دي، همدغه شان په دې اسبابو باندې یې څه نور کارونه ګرځولي چئ هغې ته مسببات وائي یعني ددې اسبابو په وجه باندې ترسره شوي کارونه دا ټول د الله پاک د پراخه علم تقاضا ده، ددې لپاره چئ په ډیر حکمت سره ددې مخلوقاتو د چلولو لپاره یو نظام او لاره برابره کړئ.

عقل انساني لپاره جائز نه دي چې پدي بهانه چې د تقدير إلهي حکمتونه ورته نه معلومیږي د تقدیر إلهي نه انکار وکړئ.

ځکه چې ډير داسي حکمتونه شته چې عقل انساني د هغي د ادراک نه عاجزه دي، او د هغي وجه دا ده چې عقل انساني د يو لوښي مثال لري، او دغه حکمتونه د بحر مثال لري نو که په يو لوښي باندي بحر راواوړي نو لوښي به د خپل ځان سره په چپو کئ ځکه چې هیڅکله دا بحر په دغه لوښي کئ نه ځائیږي.

او ځيني حکمتونه داسي هم شته چې په هغي کئ اوږده سوچونه کول عقل انساني حيرانوي، ددي مثال د ورځې په غرمه کئ د نمر سترګې ته کتل دي، نو څوک چې د ورځې په غرمه کئ د نمر سترګې ته ګوري نو هیڅکله به د هغي حقيقت معلوم نه کړئ بلکه دده سترګي به خوږي او شمکوري شي.

## يولسم فصل

**مرګ حق دي لکه څنګه چې د الله پاک فرمان دي:**

﴿كُلُّ مَنۡ عَلَيۡهَا فَانٖ ٢٦ وَيَبۡقَىٰ وَجۡهُ رَبِّكَ ذُو ٱلۡجَلَٰلِ وَٱلۡإِكۡرَامِ﴾ [الرحمن: ٢٦-٢٧]

**هر هغه څوك چې په دې (ځمکې) باندې دي؛ فاني کيدونکي دي، او باقي به پاتې شي ستا د رب مخ (ذات) چې د جلال او د عزت خاوند دي.**

**د قرآن او سنت په رڼا کې د مرګ نه وروستو حالاتو باندي لکه په قبر کې سؤال او جواب، او د قبر نعمتونه، او عذابونه وغيره باندي إيمان راوړل لازم دي.**

**د مرګ نه بعد بيرته ژوندون باندي إيمان لرل واجب دي: د الله پاک ارشاد دی:**﴿وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يَنسِلُونَ﴾ [يس: ٥١]

**او په شپېلۍ کې به پوکې وکړي شي، نو ناڅاپه به دوي له قبرونو نه د خپل رب په طرف منډې وهي۔**

**او پدي کې شک کونکي کافر دي، د الله پاک ارشاد دي:**

﴿ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَفَلَمۡ تَكُنۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ وَكُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ٣١ وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَٱلسَّاعَةُ لَا رَيۡبَ فِيهَا قُلۡتُم مَّا نَدۡرِي مَا ٱلسَّاعَةُ إِن نَّظُنُّ إِلَّا ظَنّٗا وَمَا نَحۡنُ بِمُسۡتَيۡقِنِينَ ﴾ [الجاثية: ٣١-٣٢]

**او پاتې شو هغه کسان چې کافران شويدي (نو دوی ته به وويل شي) : ايا نو تاسو ته زما آيتونه نه لوستل کيدل، بيا تاسو تکبر وکړ او تاسو مجرمان خلق وئ۔ او کله چې به (تاسو ته) وويل شو چې بيشکه د الله وعده حقه ده او قيامت (چې دي) په ده کې هيڅ شك نشته۔، تاسو به ويل: مونږ نه پوهيږو قيامت څه شی دي؟ مونږ خو بس يو ګمان کوو، ګمان کول او مونږ له سره يقين کوونکي نه يو۔**

**د آخرت د ورځې نه منکر هم کافر دي، د الله پاک ارشاد دي:** ﴿بَلۡ كَذَّبُواْ بِٱلسَّاعَةِۖ وَأَعۡتَدۡنَا لِمَن كَذَّبَ بِٱلسَّاعَةِ سَعِيرًا ﴾ [الفرقان: ١١]

بلکې دوي د قيامت تکذيب وکړ او مونږ د هغه چا لپاره چې د قيامت تکذيب کوي؛ لمبې وهونکی اور تيار کړيدي۔

د قيامت د ورځې په حساب باندې إيمان لرل واجب دي.

د الله پاک ارشاد دی:﴿وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ ٱلْقِسْطَ لِيَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۖ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَـٰسِبِينَ﴾ [الأنبياء: ٤٧]

او د قيامت په ورځ به مونږ ډېر د انصاف تلې کيږدو، نو په هيڅ نفس باندې به هيڅ شی ظلم ونه کړي شي او که دا (عمل) د اورې د دانې په وزن وي مونږ به هغه راوړو او هم مونږ حساب کوونکي بس يو۔

د آخرت په ورځې په سزا او جزا په جنت او دوزخ باندې إيمان لرل واجب دي، د الله پاک ارشاد دی:

﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُواْ فَفِي ٱلنَّارِ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٞ وَشَهِيقٌ ﴾[هود: ١٠٦] **نو هر چې هغه کسان دي چې بدبخته شويدي نو (د جهنم) په اور کې به ددوي لپاره په هغه کې (د خره په شان) سختې اوچتې رمباړې او ټيټې نرمې رمباړې وي.**

**په يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي:** ﴿وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُواْ فَفِي ٱلۡجَنَّةِ﴾ [هود: ١٠٨]

**او پاتې شو هغه کسان چې نيکبخته شوي دي، نو په جنت کې به وي.**

**کافران به په دوزخ کې وي او مؤمنان به په جنت کې وي، د الله پاک ارشاد دی:**

﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَأُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٥٦ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ [آل عمران: ٥٦-٥٧]

**پس هر چې هغه کسان دي چا چې کفر کړيدي، نو هغوی ته به زه په دنيا او آخرت کې ډېر سخت عذاب ورکوم او ددوی لپاره به هيڅوك مدد کوونکي نه وي۔ پاتې شو هغه کسان چا چې إيمان راوړيدي او نيك عملونه يې کړيدي، نو هغوي ته به (الله) د هغوی أجر پوره ورکړي او الله له ظالمانو سره مينه نه کوي۔**

د قرآن او سنت نه چې د آخرت باره کې کوم کارونه ثابت شوي وي په هغې إيمان لرل واجب دي، لکه پل د صراط، تله د ميزان د نبي کريم صلى الله حوض، او د نيک او بد عملونو عملنامې وغيره په دې ټولو باندې إيمان لرل واجب دي.

## دولسم فصل

د مسلمانانو په جماعت کئ اوسیدل واجب دي، او د إمام پرته د مسلمانانو د جماعت تصور نشي کیدلی.

د الله پاک د إطاعت په رڼاکئ د مسلمانانو د إمام پیروي کول لازم دي، د الله پاک ارشاد دی:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ﴾ [النساء:٥٩]

ای هغو کسانو چي إیمان یي راوړیدي! د الله خبره منئ او د رسول خبره منئ او د خپلو د أمر د خاوندانو، یعني د مسلمانانو نه (ولاة الأمر).

کافر هیڅکله د مسلمانانو إمام نشي جوړیدلی او نه د کافر سره بیعت صحیح کیږئ، او نه په مسلمانانو باندي د هغه پیروي واجب ده، مګر په هغه أمورو کئ به یی خبره مني چئ په هغي کئ د عامو خلکو د دنیا زندګي ډاډمنه کیږي.

او که چیرې حکمران ( بادشاه) عالم نوي نو پکار ده چې د دین پوهه (عالم) حکمران مقررشي، چې ترڅو د دین او دنیا دواړو چارې سمې په مخ رواني شي، د الله پاک ارشاد دی:

﴿ وَإِذَا جَآءَهُمۡ أَمۡرٞ مِّنَ ٱلۡأَمۡنِ أَوِ ٱلۡخَوۡفِ أَذَاعُواْ بِهِۦۖ وَلَوۡ رَدُّوهُ إِلَى ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنۡهُمۡ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسۡتَنۢبِطُونَهُۥ مِنۡهُمۡۗ ﴾ [النساء: ٨٣]

او کله چې دوی ته د أمن، یا وېرې څه خبره راشي، دوي هغه خوره (نشر) کړي۔ او که چیرې دوی هغه رسول ته او خپلو د کار خاوندانو (حاکمانو) ته رسولې وَی، (نو) خامخا په دوي کې به هغو کسانو دا (خبره) معلومه کړې وَی، څوك چې ددې استنباط او راوېستنه کوي۔

استباط د أحکامو او احوالو نشي کولی مګر عالم.

د اسلامي حکمران ( بادشاه) په خلاف خروج او بغاوت کول او د هغه سره د هغه په حکم کې جګړه کول رواه ندي، او دهغه په ظلم او جفا باندې به ترهغه وخت پوري صبر کولی

شي چې ترڅو يي د ښکاره او واضح کفر ارتکاب نوي کړی، لکه څنګه چې په صحيحينو کې د أم سلمه رضي الله عنها نه روايت دي، چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:
«إِنَّهُ يُسْتَعْمَلُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ، فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ فَمَنْ كَرِهَ فَقَدْ بَرِئَ، وَمَنْ أَنْكَرَ فَقَدْ سَلِمَ، وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، أَلا نُقَاتِلُهُمْ؟ قَالَ: «لا، مَا صَلَّوْا»

په تاسو باندي به داسي حکمرانان مقرر شي چې معروف (نيک کارونه) او منکر د شريعت خلاف کارونه به کوئ، چا چې دغه منکر کارونه ناخوښ وګنل ،او ددغي نه يي انکار وکړ نو د ګناه نه بچ شو، ليکن څوک چې په دغه منکراتو باندي راضي شو او د هغي تابع شو نو ګناه ګار شو، صحابه کرامو عرض وکړ چې أي د الله رسوله مونږ د دغسي حکمرانانو سره قتال وکړو؟ نبي کريم صلى الله وفرمايل: نه ! قتال ورسره مکوئ ترڅو چې دوي مونځونه کوئ.

د خیر خواهي په بنیاد به دوي ته نصحیت کولې شي ترڅو شر د مینځه لاړ شي او یا کم شي، صحیح مسلم کې د تمیم داري رضي الله عنه نه روایت دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«الدِّينُ النَّصِيحَةُ» قُلْنَا: لِمَنْ؟ قَالَ: «لِلَّهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ»

دین د خیر خواهۍ نوم دي، مونږ وویل: د چا لپاره؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د الله پاک لپاره، او د هغه د کتابل لپاره، او د هغه د رسول لپاره، او د اسلامي حکمرانانو لپاره، او د عامو مسلمانانو لپاره.

د حکمرانانو پټ رازونه ښکاره کول او دهغوي رسوا کول، او عامو خلکو ته د هغوي عیبونه بیانول جواز نلري، بلکه دي باره کې هغوي ته یواځې نصیحت کول پکار دي.

خو کله چې حکمران یو داسي کار مشروع او جائز کړي چې په دین اسلام کې هغه منکر وي، نو که چیرته هغه ته یواځې

نصحیت فائده ورکوله او پدي سره هغه د دغه منکر نه توبه ویستله، نو یواځې به ورته نصیحت وکړی شي، او که نصیحت فائده نه ورکوله بلکه هغه په خپل منکر باندي ولاړ وو، نو بیا واجب ده چې د هغه دا منکر عامو خلکو ته بیان کړیشي، ځکه چې دا د هغوي لپاره نصیحت او خیر خواهي ده ددي لپاره چې دین او دیني أحکام بدل نشي، او دا د همدي حدیث غوښتنه ده:

«لِلَّهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ» د الله پاک لپاره، او د هغه د کتاب لپاره، او د هغه د رسول لپاره،او د اسلامي حکمرانانو لپاره، او دعامو مسلمانانو لپاره.

او دا نصیحت او خیر خواهي ددوي حق دي او د بل هر چا د حق نه مخکي دي.

عالِم به د عامو خلکو او د هغوي د دنیاوي مصالحو( ګټو) نه مخ نه اړوي او نه به د زهد په بهانه د هغوي نه جدا کیږئ، ځکه د عالِم غوره زهد هغه دي چې د هغه د خپل ځان په

باره کئ وي، او د عامو خلکو په باره کئ د عالم زهد د ستايني وړ ندي، بلکه په عالم باندي د يو مظلوم مرسته او مدد کول واجب دي، اګر د هغه مظلوم حق د يو درهم برابر وي، او د فقير او مسکين لپاره به د خوراک بندوبست کوي اګر که د يوي کجوري په اندازه وي، ځکه چئ عالم د يو والي (مشر) حيثيت لري او د خلکو دنياوي مصالحو ته پاملرنه د هغوي د ديني اصلاح لپاره دروازه ده، ځکه خو به نبي کريم صلی الله عليه و سلم د خپل ځان باره کئ د دنيا د خزانو پرواه نه کوله خو دکمزورو خلکو لکه بريره وغيره دوي سره به يي د لږو دينارو د حاصلولو لپاره مرسته او مدد کولو او په دي باره کئ به يي خلکو ته ترغيب هم ورکولو.

## دریارلسم فصل

**د الله په لاره کې جهاد کول به د قیامت پورې جاري او روان وي، او ترڅو پورې چې قرآن حکیم په مخ د ځمکې موجود وي ترهغه پورې به د جهاد حکم منسوخ نشي، لکه څنګه چې په صحیح مسلم کې د جابر رضي الله عنه روایت دی:**

«لا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ» **زما په أمت کې به یوه ډله همیشه په حق او د حق لپاره جنګیږي او ترقیامت پورې به غالبه وي.**

**په داسې جهاد کې چې په هغې کې مسلمانان د خپل دین ابرو او عزت نه دفاع کوي د إمام إجازت ورکول او د جهاد لپاره نیت کول شرط ندی، بلکه په دوي واجب ده چې د خپل طاقت برابر د خپل دین عزت نه دفاع وکړي، لکه څنګه چې په حدیث کې راغلي دي:** «مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ، أَوْ دُونَ دَمِهِ، أَوْ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ»

څوک چې د خپل مال په دفاع کې مړ شي شهيد دي، او څوک چې د خپل أهل او بچو په دفاع کې مړ شو شهيد دي، څوک چې د خپل ځان په دفاع کې مړ شو شهيد دي، څوک چې د خپل دين په دفاع کې مړ شو شهيد دي.

دا حديث په صحيح بخاري او صحيح مسلم کې مختصر ذکر شويدي.

د انسان په نفس، ابرو او عزت ، باندي حمله کونکي په ضد جهاد کول واجب دي، برابره خبره ده: چې دا حمله کونکی کافر او مشرک وي، او که مسلمان وي، لکه څنګه چې په نسائي کې د قابوس د پلار مخارق نه روايت دی:

جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: الرَّجُلُ يَأْتِينِي فَيُرِيدُ مَالِي، قَالَ: «ذَكِّرْهُ بِاللَّهِ» قَالَ: فَإِنْ لَمْ يَذَّكَّرْ؟ قَالَ: «فَاسْتَعِنْ عَلَيْهِ مَنْ حَوْلَكَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ» قَالَ: فَإِنْ لَمْ يَكُنْ حَوْلِي أَحَدٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ؟ قَالَ: «فَاسْتَعِنْ عَلَيْهِ بِالسُّلْطَانِ» قَالَ: فَإِنْ

نَأَىالسُّلْطَانُ عَنِّي؟ قَالَ: «قَاتِلْ دُونَ مَالِكَ حَتَّى تَكُونَ مِنْ شُهَدَاءِ الْآخِرَةِ، أَوْ تَمْنَعَ مَالَكَ»

**يو كس د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو او عرض يي وكړو چې اي د الله رسوله كه يو كس راشي او زمانه زما مال اخلي نو په دغه وخت كې زه بايد څه وكړم؟**

**نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: د الله نه ورته ويره وركړه. هغه كس وويل: كه هغه زما نصيحت قبول نه كړې؟ نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: چې د هغه مسلمانانو نه مرسته وغواړه كوم چې ستا خواته وي. هغه كس وويل كه مسلمانان زما خواته نه وي؟ نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: د بادشاه نه مرسته او مدد وغواړه. هغه كس ورته وويل: كه بادشاه زما دمرستي نه انكار وكړي، نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: چې د خپل مال د حفاظت لپاره ورسره وجنګيږه چې د خپل مال**

ساتنه وکړئ او که مړ شوي نو په آخرت کښ به د شهيدانو په ټولګي کښ شمېر شي.

او هغه جهاد چې په هغي کښ (طلب) د الله د دين اوچتوالی مقصد وي په هغي کښ دا نيت کول چې د الله پاک دين غالبه شي، واجب دي، لکه څنګه چې په صحيح بخاري، او صحيح مسلم کښ د أبو موسی الاشعری رضي الله عنه روايت دي، چې يو بانډچي راغي او نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته يي وويل: «يَا رَسُولَ اللّٰهِ، الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ، وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُذْكَرَ، وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ، فَمَنْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللّٰهِ أَعْلَى، فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ»

ای د الله پيغمبره يو کس د غنيمت دپاره جنګيږي، بل ددي لپاره جنګيږي، چې صفتونه يي وشي، او بل ددي لپاره

جنګیږي چې مرتبه یې وچته شي، په دوي کې کوم یو د الله د لاري مجاهد دی؟

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د الله د دین د سر لوړۍ په خاطر جنګیږي هغه د الله د لاري مجاهد دی.

او په دي ډول جهاد کې د إمام اطاعت او تابعداري هم واجب ده، لکه څنګه چې په صحیح بخاري او صحیح مسلم کې د أبو هریره رضي الله عنه نه روایت دي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللَّهَ، وَمَنْ أَطَاعَ أَمِيرِي فَقَدْ أَطَاعَنِي، وَمَنْ عَصَى أَمِيرِي فَقَدْ عَصَانِي»

چاچې زما اطاعت وکړ، نو هغه د الله پاک اطاعت وکړ، او چا چې زما نافرماني وکړه، هغه د الله پاک نافرماني وکړه، او چاچې

زما د مقرر شوي أمير تابعداري وکړه هغه زما تابعداري وکړه، او چاچې زما د أمير نافرماني وکړه هغه زما نافرماني وکړه.

## څوارلسم فصل

په ټولو خلکو کې د پیغمبرانو نه بعد غوره خلک د محمد صلی الله علیه وسلم ملګري دي، د دوي فضیلت په وحي إلهي سره ثابت دي، د الله پاک ارشاد دي:

﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ تَرَىٰهُمۡ رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ﴾[الفتح: ٢٩]

محمد د الله رسول دی۔ او هغه کسان چې له ده سره دي، په کافرانو باندې ډېر سخت دي، پخپل مینځ کې ډېر مهرباني کوونکي دي.، ته به دوی وینې چې رکوع کوونکي، سجده کوونکي دي، له الله نه فضل او رضامندي غواړي۔

او څنګه چې پیغمبران پخپل مینځ کې د جدا جدا فضیلتونو خاوندان دي، همدغه شان صحابه کرام هم پخپل مینځ کې د جدا جدا فضیلتونو خاوندان دي، او په پیغمبرانو کې د کمي درجې والا پیغمبر د ټولو صحابه کرامو نه غوره دي. همدغه

شان په صحابه کرامو کې د کمي درجي والا صحابي د ټولو تابعينو نه غوره دی.

غوره صحابه کرام هغه دي چې د اسلام دين قبلولو ته ورمخکي شويدي او په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندي په داسي وخت کې ايمان راوړی دي چې د ضعف او کمزورۍ وخت وو، دوي د هغه چانه غوره دي چې په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندي ايمان راوړو، خو داسي وخت وو، چې اسلام غالبه وو، لکه هغه څوک چې د مکي د فتحي نه يي مخکي ايمان راوړی دي غوره دي د هغه چانه چې د مکي د فتحي نه يي وروسته ايمان راوړی دی.

د الله پاک ارشاد دی: ﴿لَا يَسۡتَوِي مِنكُم مَّنۡ أَنفَقَ مِن قَبۡلِ ٱلۡفَتۡحِ وَقَٰتَلَۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡظَمُ دَرَجَةٗ مِّنَ ٱلَّذِينَ أَنفَقُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَقَٰتَلُواْۚ﴾ [الحديد: ١٠]

او تاسو ته څه مانع (او عذر) دی چې د الله په لاره کې خپل مال) نه لګوئ، حال دا چې د اسمانونو او ځمکي ميراث خاص

د الله لپاره دي. په تاسو کي هغه څوك ندي برابر چا چي (د الله په لاره کي) له فتحي نه مخکي انفاق کړي دي او جنګ يي د الله په لياره کې کړيدی.

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ملګرتوب فضيلت خو ټولو صحابه کرامو ته حاصل دي، لکه څنګه چئ د الله پاک ارشاد دي:

﴿وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾ [الحديد: ١٠]

او (په دوي کي) له هر يو سره الله د ښيګڼې (جنت) وعده کړيده. او الله په هغو کارونو چي تاسو يي کوئ، ښه خبردار دي.

يو بل مقام کئ الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلْأَوَّلُونَ مِنَ ٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحْسَٰنٍ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ﴾ [التوبة: ١٠٠]

او له مهاجرينو او انصارو نه هغه وړانديني اولني (ايمان لرونکي) او هغه کسان چي په نيکۍ سره يې د دوی پيروي کړې ده، الله له دوي نه راضي شويدي او دوي له هغه نه راضي شويدي۔

په هغه صحابه کرامو کئ چئ د اسلام دين منلو ته ورمخکي شوي وو، په هغوئ کئ غوره بيا (عشره مبشره) لس هغه صحابه کرام دي چئ هغوي ته په يو مجلس کئ د جنت زيری ورکړی شوی وو،

او په دي عشره مبشره کئ غوره بيا خلفاء راشدين دي، بيا هغه صحابه غوره دي، کوم چئ د بدر په غزا کئ شريک شوي وو، بيا هغه صحابه کرام غوره دی کوم چئ د أحد په غزا کئ شريک شوي وو، بيا هغه صحابه کرام غوره دي، کومو چئ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره د وني لاندي په شهادت بيعتونه کړي وو، د الله پاک ارشاد دي:

﴿ لَّقَدۡ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ يُبَايِعُونَكَ تَحۡتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمۡ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيۡهِمۡ وَأَثَٰبَهُمۡ فَتۡحٗا قَرِيبٗا ﴾[الفتح: ١٨]

**يقيناً يقيناً الله له مومنانو نه راضي شو كله چې دوي له تا سره د ونې لاندې بيعت كاوه، پس ده ته هغه څه معلوم وو چې د دوى په زړونو كې وو، بيا هغه په دوي اطمينان (سكون، رحمت) نازل كړ او دوى ته يې په عوض كې نژدې بري وركړ۔**

**په صحيح بخاري كې د جابر رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم هغه صحابه كرامو ته وفرمايل: كومو چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره ددغي ونې لاندې په شهادت بيعت كولو: تاسو په زمكه كې غوره انسانان يئ، او ددوي شمېر يو زرو څلور سوه تنو ته رسيدلو.**

**صحابه كرامو دين درسول الله نه زده كړى او مونږ ته يي په ډېرو تكليفونو رانقل كړيدي.**

نو څوک چې صحابه کرامو ته بد رد وائي، په حقیقت کې د دین بیخ کندي کوئ، او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سنتو کې شک ته لاره هواره وي.

حقیقت دادي چې صحابه کرام د الله د رسول نه وروستو أمانت دار جماعت دي، په صحیح مسلم کې د الله د رسول حدیث دي فرمائي:

«أَصْحَابِي أَمَنَةٌ لأُمَّتِي، فَإِذَا ذَهَبَ أَصْحَابِي أَتَى أُمَّتِي مَا يُوعَدُونَ»

زما صحابه زما د امت د پاره د فتنو نه د أمن سبب دي کله چې دوي لاړ (مړه) شي نو بیا به زما په أمت باندي هغه فتني وغیره راشي د کومو چې ورسره وعده شویده.

صحابه کرام د خطا او ګناه نه معصوم ندي خو د هغوي خطاګاني هغوي ته د بد رد ویلو لپاره ذریعه جوړه ول هم جواز نلري، او هغه اختلافات چې د صحابه کرامو په مینځ کې واقع شویدي، په هغې کې د بحث کولو نه ډډه کول پکار ده،

مګر که د هغې سره کوم فقهي حکم او پوهه متعلقه وي نو د هغوي د عزت او احترام سره په هغې کې بحث کول مشروع دي، او په هغه اختلافاتو کې چې د صحابه کرامو په مینځ کې واقع شویدي په هغې کې صحابه کرام معذور ګڼل پکار دي، ځکه چې اګر که د صحابه کرامو په مینځ کې اختلافات واقع شوي دي، خو بیا هم صحابه کرامو د نور أمت په نسبت سره غوره خلک دي او الله پاک ورته فضیلت ورکړیدي ځکه چې د الله د رسول سره یې صحبت او ملګرتیا کړیده.

او هغه اختلافات چې د صحابه کرامو په مینځ کې واقع شویدي هغه ټول اجتهادي اختلافات دي، نو اګر که په هغې کې ځیني صحابه خطا شوي وي، بیا هم ورته د اجتهاد (کوشش) أجر او ثواب ملاویږي.

ځکه چې دوي د الله د رسول سره ډیر ښه ملګرتوب کړیدي او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره یې هیڅ قسم اختلاف

ندي کړی، ځکه خو په نور ټول أمت باندي صحابه کرام غوره او د فضیلت خاوندان دي.

د صحابه کرامو په مینځ کئ اختلافات یوه داسي دروازه ده چئ کله ځوک هغه په یو صحابي را کلاو کړي نو په نورو صحابه و هم راکلاویږي، ددي وجئ نه تابعینو او تبع تابعینو به په دې مسائلو کئ د بحث کولو نه ډډه کوله، د عمر بن عبد العزیز نه د عثمان، او علي رضي الله عنهم په مینځ کئ د جنګ، او د جنګ جمل، او د صفین جنګ متعلق پوښتنه وشوه؟ هغه په جواب کي وویل: دغه داسي ویني دي چئ زما لاسونه د هغي نه الله پاک محفوظ ساتلي دي، نو نه غواړم چئ خپله ژبه په کئ ککړه کړم.

د صحابه کرامو پخپل مینځي اختلافاتو کئ بحث ځکه ندي پکار چئ ددي باره کئ د هیچا نه د قیامت په ورځ تپوس نه کیږي بلکه د هغوي د فضیلت او حقوقو باره کي به تپوس کیږي.

## پنځلسم فصل

د کفر نه غیر په ګناه کبیره باندې مسلمانان نه کافر کوو او نه یې د ملت نه خارجه وو.

الله پاک ته کنځل کول کفر دي او دا په جرم کې د شرک نه لوی جرم دي، ځکه چې مشرک د الله پاک سره شرک کوي خو د کاڼو او جماداتو درجي ته یې نه راښکته کوئ، بلکه مشرک خو کاڼي د الله پاک درجي ته ورپورته کوي، او هر چې الله پاک ته کنځل کونکي دي هغه خو الله پاک د کاڼي او جماداتو نه هم ښکته کوئ، ځکه خو الله پاک ته کنځل کول ډیر لوی کفر دي.

او په کفر کې زیادت او نقصان هم راځي، لکه څنګه الله پاک فرمایلي دي: ﴿ تَٱللَّهِ إِن كُنَّا لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ [الشعراء: ٩٧-٩٨]

قسم په الله، یقیناً مونږه خامخا په ښکاره ګمراهۍ کې وو۔ کله چې مونږ تاسو له رب العلمین سره برابرولئ۔

په یو بل مقام کې الله پاک فرمایلي دي:

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ ثُمَّ ٱزۡدَادُواْ كُفۡرٗا لَّن تُقۡبَلَ تَوۡبَتُهُمۡ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلضَّآلُّونَ ﴾ [آل عمران: ۹۰]

**بیشکه هغه کسان چې له خپل إیمان راوړو نه بعد کافر شول، بیا په کفر کې (تر ځنکدنه) مخ په وړاندې لاړل، (نو) د هغوی توبه به له سره نه قبلیږي او همدغه کسان ګمراهان دي۔**

**لیکن د کفر زیادت او کمي دوزخیان د دوزخ نه نشي راویستلی، خو د کفر سره سم به یي عذاب ډیریږي او یا کمیږي، د الله پاک ارشاد دی:**

﴿ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ زِدۡنَٰهُمۡ عَذَابٗا فَوۡقَ ٱلۡعَذَابِ بِمَا كَانُواْ يُفۡسِدُونَ ﴾ [النحل: ۸۸]

**هغه کسان چې کفر یې کړیدي او د الله له لارې نه یې بندول کړیدي، مونږ به هغوي ته عذاب د عذاب له پاسه ورزیات کړو، په سبب د هغه چې دوي به فساد کاوه۔**

**مونږ د هیچا لپاره د جنت او جهنم فیصله نه کوو مګر هغه ځوک چې د هغي فیصله په قرآن او سنت سره شوي وي، خو**

دومره وايو چې هر څوک د إيمان او توحيد په حالت کې مړ شو جنت ته به ځي او چې څوک د کفر او شرک په حالت کې مړ شو دوزخ ته به ځي.

## شپاړلسم فصل

د ازادۍ حقيقت هغه دادی: چې بنده د بل هرچا د غلامۍ نه آزاد شي، او يواځې د الله پاک عبادت او بندګي وکړي، او د آزادي داسي مفهوم چې د الله پاک د أوامرو او نواهي نه اعراض کول دا نفس پرستي او خواهش پرستي ده، د الله پاک ارشاد دی:

﴿أَفَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ ٱللَّهِ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ [الجاثية: ٢٣]

ايا نو تا هغه کس ليدلي دي چې خپل معبود يې خپل خواهش ګرځولي دي او الله هغه په علم باندې ګمراه کړ او د هغه په غوږونو او د هغه په زړه يې مهر ولګاوه، او د هغه په سترګو

Download From; Aghalibrary.com

يې پرده واچوله، نو ده ته به له الله نه بعد څوك هدايت وکړي.، ايا نو تاسو پند نه اخلئ!.

هغه څوک چې د انسان لپاره دا رواه کوئ چې هر څه وايي، او هر کله يي وائي، او هر څه چئ زړه يي وغواړي ودي کړي دا خو په خقيقت کئ د خپل خواهش او د شيطان بندګي ده.

ځکه چئ انسان د بندګي په صفت پيدا شويدي چئ د خپل رب عبادت او بندګي نکوئ نو ضرور به د خپل خواهش او شيطان بنده جوړيږي.

که چيرته په د نيا کي يو انسان وي نو په هغه باندي به الله پاک شرعي احکام نه وي فرض کړي چئ په قتل کئ قصاص شو، د تهمت حد شو، د سترګو حفاظت شو، د ميراث احکام شو، همدغه شان به په هغه باندي يي زنا، سود خوري، وغيره نه وي حرام کړي بلکه دا شرعي احکام يي ددي لپاره مقرر کړيدي چئ ددي انسان سره دده د جنس نه نور انسانان شته او چئ څومره انسانان زياتيږي همغه ومره د ژوند د درستګي

Download From; Aghalibrary.com

لپاره شرعي احکام مشروع شويدي، همدغه شان که چرته په فلکي نظام کې يواځې سپوږمي وي، نو په هغې باندي به الله پاک دا خاص ګردش نه وي مقرر کړي خو چې کله په فلکي نظام کې نور ستوري وغيره دي نو د فلکي نظام د درستګئ لپاره د سپوږمي داسي ګردش مقرر شويدي، د الله پاک ارشاد دی: ﴿يُغۡشِى ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ [الأعراف: ٥٤]

هغه په شپې سره ورځ پټوي، په دې حال کې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب کوي او (پيدا کړې يې ده) لمر ستړګه، او سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حکم سره مسخر کړی شويدي، اګاه شئ! خاص هغه لره دي پيدا کول او حکم کول، ډېر برکت والا دي الله چې رب العلمين دی۔

په يو بل مقام کې الله پاک فرمايلي دي

Download From; Aghalibrary.com

﴿لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ﴾ [يس: ٤٠]

لمر لره ممکن نه دي چې سپوږمۍ رالاندې کړي او نه شپه په ورځ ړومبۍ کيدونکې ده او هر يو په (خپل) مدار کې لامبو وهي۔

د دين او دنيا د سمون په خاطر د اسلام د مبين دين احکام مقرر شوي دي، او هرڅوک چئ د اسلامي شرعي احکامو نه سر غړونه کوئ نو د سزا مستحق ګرځي.

دين اسلام قبلول ضروري او واجب دي او دين اسلام بېرته پريښودل کفر او ارتداد دي، د الله پاک ارشاد دي:

﴿وَمَن يَرۡتَدِدۡ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتۡ وَهُوَ كَافِرٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ﴾

او په تاسو کې چې څوك له خپل دين نه وګرځيده، بيا په داسې حال کې مړ شو چې کافر و، نو دغه کسان (چې دي)

Download From; Aghalibrary.com

ددوي عملونه په دنيا او آخرت (دواړو) کې ضايع شويدي او دغه کسان د اور ملګري دي، دوي به په هغه کې تل ترتله (هميشه) وي۔

او په صحيح بخاري کئ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي، چئ نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ» چاچې دين اسلام بدل کړ قتل يي کړي.

د الله پاک عبادت او بندګي د ټولو مخلوقاتو د پيدائش هدف او مقصد دي، او څوک چئ ددي نه سرغړونه کوئ ګويا که هغه په دي حقيقت (چئ د مخلوقاتو د پيدائش مقصد د الله پاک بندګي کول دي) يقين او إيمان نه لري مؤمن نه بلل کيږي.

په دنيايي نظام کې د يو ملک د قانون او نظام نه سرغړونه رواه نه بولي، او د الله پاک د عبادت نه سرغړونه کوئ، نو دا ددي وجئ نه چئ د مخلوقاتو د پيدائش مقصد او هدف دده

Download From; Aghalibrary.com

**په زړه کې کمزوري دي او يا بيخي د مينځه تللی دي، د الله پاک ارشاد دي:**

﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾[الذاريات: ٥٦]

**او ما پيريان او انسانان ندي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې دوي زما عبادت وکړي.**

**هغه ذات چې انسانان او پيران يې په دنيا کې د خپل عبادت او بندګۍ لپاره پيدا کړيدي، همدغه ذات به ورسره په آخرت کې حساب او کتاب کوي، الله پاک دي زمونږ حالت او راتلونکی ښه کړي.**

و صلى الله و سلم على نبيه محمد ومن اتبعه.

***Download From; Aghalibrary.com***